
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# ریاضي

## څلورم ټولگی




Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري. پــه بازار کې یې اخیستنه او خرڅونه په کلکه منع ده. لــه سرغړوونکو سره قانوني چلند کیږي.

ISBN 978-9936-25-167-0

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# ریاضي

## څلورم ټولګی

**د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمېټې

## لیکوال:

سرمؤلف میرنقیب الله د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د څېړنې او ارزونې د دیپارتمنت آمر.

## تایید او مطالعه:

## ملي شورا:

**د ولسي او مشرانو جرگو د دیني چارو، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.**

## د څېړنې او تدقیق کمېټې:

## د پوهنې وزارت:

- سر مؤلف عبدالنبي واحدي د پوهنې وزارت سلا کار
- دوکتور ننگیالی ارسلا د پوهنې وزارت سلاکار
- سرمؤلف عبدالکبیر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارتمنت آمر.
- سرمؤلف نظام الدین د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارتمنت علمي غړی.

ژباړونکی: مختار نوید د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي دیپارتمنت کار کوونکی.

ادیتور: آقا محمد گرندی- د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د پښتو دیپارتمنت علمي غړی.

## د محتوا، دیني او سیاسي فرهنگي برخو د څېړنې او بررسی کمیټه:

- دوکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار.
- محمد آصف ننگ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

## د څېړنې او تدقیق د څارنې کمېټه:

- دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین. دکمېټې رئیس

_ محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال. غړی.

_ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر گلستانی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.

**کمپوز او ډیزاین:** حمید الله غفاري

ادیتور: آقامحمد (گرندی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی     دا عزت د هـــر افغان دی
کور د سولې کور د توري     هر بچي يې قهرمـــان دی
دا وطن د ټولو کــور دی     د بلوڅـــو د ازبکـــو
د پښتـــون او هزاره وو     د ترکمنـــو د تاجکـــو
ورسره عرب، گوجــر دي     پامېــريان، نورستانيـــان
براهوي دي، قزلباش دي     هم ايمـــاق، هم پشـه يان
دا هيـــواد به تل ځليږي     لکـــه لمــر پر شنه آسمـان
په سينـــه کې د آسيـــا به     لکـــه زړه وي جـــاويدان
نوم د حق مودی رهبـــر     وايو الله اکبر وايو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوهنې د وزیر پیغام**

**ګرانو استادانو، ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کیږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤولیت لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

| شماره | سرليکونه | مخونه |
|---|---|---|
| | **د دریم ټولګي لنډيز** | |
| ۱- | لومړی لوست: د عددونو د مقامي قیمتونو تقویه کول تر سلوزرو ....... | ۱ |
| ۲- | دوهم لوست: تخمين کول ........................................................ | ۵ |
| ۳- | دريم لوست: د عددونو جمع کول په عمودي او افقي ډول .................. | ۷ |
| ۴- | څلورم لوست: د عددونو تفريق کول په عمودي او افقي ډول .............. | ۱۰ |
| ۵- | پنځم لوست: ضرب: ................................................................ | ۱۳ |
| ۶- | شپږم لوست: د دوه رقمي او درې رقمي عددونو تقسيم په يو رقمي عدد باندې | ۱۶ |
| | **لومړی څپرکی** | |
| ۷- | اووم لوست: د عددونو طبقه بندي، لوستل او ليکل تر مليارد پورې....... | ۱۹ |
| ۸- | اتم لوست: د عددونو پراخه (توسعوي) ښودل .................................. | ۲۳ |
| | **دوهم څپرکی** | |
| | **څلور ګوني عمليې** | |
| ۹- | نهم لوست: د عددونو جمع کول تر مليارد پورې .............................. | ۲۶ |
| ۱۰- | لسم لوست: د جمعې د عمليې امتحان .......... .............................. | ۲۹ |
| ۱۱- | يوولسم لوست: د عددونو تفريق ترمليارد پورې ............................. | ۳۱ |
| ۱۲- | دولسم لوست: د تفريق د عمليې امتحان ..................................... | ۳۵ |
| ۱۳- | ديارلسم لوست: د دوه رقمي عدد ضرب په دوه رقمي عدد کې ........... | ۳۸ |
| ۱۴- | څوارلسم لوست: د دوه رقمي عدد ضرب په درې رقمي عدد کې ......... | ۴۱ |
| ۱۵- | پنځلسم لوست: د دوه رقمي عدد ضرب په څلور رقمي عدد کې .......... | ۴۵ |
| ۱۶- | شپاړسم لوست: د دوه رقمي عدد ضرب په څلور رقمي عدد کې .......... | ۴۸ |
| ۱۷- | اوه لسم لوست: د دوه رقمي عدد تقسيم پر دوه رقمي عدد باندې............ | ۵۱ |
| ۱۸- | اتلسم لوست: د درې رقمي عدد تقسيم پر دوه رقمي عدد باندې .......... | ۵۴ |
| ۱۹- | نولسم لوست: د څلور رقمي عدد تقسيم پر دوه رقمي عدد باندې........ | ۵۷ |
| ۲۰- | شلم لوست: د ضرب د عمليې امتحان........................................... | ۶۰ |
| ۲۱- | يوويشتم لوست: د تقسيم د عمليې امتحان...................................... | ۶۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دریم څپرکی**

**هندسه**


| | | |
|---|---|---|
| ۲۲- | دوه ویشتم لوست: د مثلث د محیط اندازه کول ........................... | ۶۲ |
| ۲۳- | درویشتم لوست: د مربع د محیط اندازه کول ................................... | ۶۹ |
| ۲۴- | څلور ویشتم لوست: د مستطیل د محیط اندازه کول ........................ | ۷۱ |
| ۲۵- | پنځه ویشتم لوست: د مضلع د محیط اندازه کول ............................ | ۷۳ |
| ۲۶- | شپږ ویشتم لوست: د سطحي پیژندنه............................................ | ۷۵ |
| ۲۷- | اووه ویشتم لوست: د دایرې پیژندنه .................................................. | ۷۷ |
| ۲۸- | اته ویشتم لوست: د سطحې د واحد پیژندنه او د مربع د مساحت پیدا کول | ۷۹ |
| ۲۹- | نهه ویشتم لوست: د مستطیل د مساحت پیدا کول ............................ | ۸۹ |


**څلورم څپرکی**

**عام کسر**


| | | |
|---|---|---|
| ۳۰- | دیرشم لوست: د کسر د صورت، مخرج او کسري خط (بر خط) مفهوم .... | ۸۳ |
| ۳۱- | یو دیرشم لوست: د هغو کسرونو مقایسه کول چې مخرجونه یې سره مساوي وي | ۸۶ |
| ۳۲- | دوه دیرشم لوست: د عامو کسرونو جمع کول چې مخرجونه یې سره مساوي وي | ۸۹ |
| ۳۳- | دري دیرشم لوست: د عامو کسرونو تفریق چې مساوي مخرجونه ولري ...... | ۹۲ |


**پنځم څپرکی**

**د اندازه ګیري واحدونه**


| | | |
|---|---|---|
| ۳۴- | څلور دیرشم لوست: داوږدوالي د اندازه کولو واحد ....................................... | ۹۴ |
| ۳۵- | پنځه دیرشم لوست: د اوږدوالي د واحد د اجزاوو او اضعافو په یو بل باندې بدلول | ۹۶ |
| ۳۶- | شپږ دیرشم لوست: د کتلې د اندازه کولو واحد ................................. | ۹۸ |
| ۳۷- | اووه دیرشم لوست: د کتلې د واحد د اجزاوو او اضعافو په یو بل باندې بدلول | ۱۰۰ |
| ۳۸- | اته دیرشم لوست: د ظرفیت د اندازه کولو واحد.................... .......... | ۱۰۲ |
| ۳۹- | نه دیرشم لوست: د وخت (زمان) د مقیاس واحد .............................. | ۱۰۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانو زده کوونکو: لاندې موضوع ګانې تاسې په درېیم ټولګی کښې لوستلې وې خو د یادونې له پاره یې یوځل بیا په لنډه توګه یادونه کوو .

**لومړی لوست:**

# د عددونو د مقامي قیمتونو تقویه کول تر سلو زرو پورې

**هدف:** زده کوونکي د عددونو مقامي قیمتونه ښه و پیژني او عددونه تر سلو زرو پورې طبقه بندي کړای شي.

**پوښتنې:**

- د ۴۵۳۶ عدد څورقمي دی؟
- د ۹۹۹۹۹ عدد څو رقمي دی؟
- په هره طبقه کې څو مرتبې شته والی لري؟

**د زده کونکو فعالیت:**

ــ زده کوونکي دې د لاندې عددونو رقمونه په اړوندو مرتبوکې ولیکي؟

۱ــ لس زره یوسلو پنځه ویشت؟

| د زریزو طبقه | | | دیو یزو طبقه | | |
|---|---|---|---|---|---|
| سل زریز | لس زریز | زریز | سلیز | لسیز | یویز |
| | | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲_ د یارلس زره دوه ځلویښت؟

| د زرېزو طبقه | | | د یو یزو طبقه | | |
|---|---|---|---|---|---|
| سل زریز | لس زریز | زریز | سلیز | لسیز | یویز |
| | | | | | |

۳_ پنځه ځلویښت زره یوسلو یو:

| د زرېزو طبقه | | | دیو یزو طبقه | | |
|---|---|---|---|---|---|
| سل زریز | لس زریز | زریز | سلیز | لسیز | یویز |
| | | | | | |

۴_ اووه ویشت زره اووه سوه یو ویشت:

| د زرېزو طبقه | | | د یو یزو طبقه | | |
|---|---|---|---|---|---|
| سل زریز | لس زریز | زریز | سلیز | لسیز | یویز |
| | | | | | |

۵_ یو دیرش زره اته سوه:

| د زرېزو طبقه | | | د یو یزو طبقه | | |
|---|---|---|---|---|---|
| سل زریز | لس زریز | زریز | سلیز | لسیز | یویز |
| | | | | | |

**ارزونه**:

ښاغلی ښوونکی دې خپل ځان ډاډمن کړي چې:


- زده کوونکي د عددونوطبقه بندي کولای شي؟
- زده کوونکي په صحیح ډول اعداد لوستلای او لیکلای شي؟


ښاغلی ښوونکی! باید زده کوونکي په پنځو گروپونو تقسیم او پورته پوښتنې هر گروپ ته ورکړي تر څو د بحث نه وروسته اعداد طبقه بندي کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library


## کورنۍ دنده:


زده کوونکي دې د لاندې هر شکل عددونه ولیکي:













**ښاغلی ښوونکی!** زده کوونکي د کورنۍ دندې د اجراء لپاره تشویق او په منظمه توګه وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تمرین

د لاندې جملو مربوط عددونه و لیکئ.

| جملې | عددونه |
|---|---|
| دوه سوه اته څلویښت. | |
| دری زره اوه سوه څلورویشت. | |
| پنځلس زره نه سوه څلور. | |
| درویشت زره دوه سوه لس. | |
| دوه څلویښت زره یوسل او پنځه ویشت. | |
| یوسل او درې او یازره نهه سوه شپږ اتیا . | |
| درې سوه اووه اتیا زره دوه سوه اووه اتیا . | |
| پنځه سوه نه څلویښت زره درې سوه پنځوس. | |
| اووه سوه دوه نوي زره پنځه. | |

د >، < علامې په تشو ځایو نو کې کیږ دئ:

| | |
|---|---|
| ۶۰۲ ○ ۴۷۳ | ۱۲۴۹۹۸ ○ ۱۲۵۳۷۶ |
| ۱۵۰۰+۱۵ ○ ۱۵۱۵ | ۳۰۲۵۰۰ ○ ۲۷۰۳۲۰ |
| ۲۲۰۰۴ ○ ۲۱۰۱۴ | ۱۷۸۹۴۳ ○ ۴۸۰۰۲۹ |


**ښاغلی** ښوونکی! زده کوونکي دې په ګروپي ډول پورتنۍ پوښتنې حل او تاسې ورسره لاربښوونه او مرسته وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم لوست

# تخمین کول

**هدف**: په زده کوونکو کې تخمین کولو ته پراختیا ور کول.




**پوښتنې**:

- ایا تاسې کوم وخت ځینې شیان تخمین کړي دي؟
- ایا تخمین کول دقیق کیدای شي؟
- کوم ډول تخمین ته ښه تخمین ویلای شو؟

## د زده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې مواد لکه لوبیا، نخود، غنم او ... چې د ښوونکي په واسطه را وړل شوي دي تخمین کړي.

- له تخمین څخه وروسته دې هغه وشمېري.
- له شمیرلو څخه وروسته نتیجه واخلئ چې تر کوم حده پورې تخمین صحیح دی.

ښاغلی ښوونکی! مختلف درې مواد لوبیا، نخود، غنم د لرګیو ټوټې خپل ټولګي ته د ځانه سره راوړئ او له زده کوونکو څخه وغواړئ چې تخمین یې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ارزونه:**

ښاغلی ښوونکی دې خپل ځان ډاډه کړي چې:

- زده کوونکو د تخمین کولو مهارت چې حقیقت ته نژدې وي تر کوم حده پورې لاسته راوړی دی؟
- ایا زده کوونکي کولای شي چې مختلف شیان له شمېرلو څخه مخکې اندازه او نسبتاً تخمین کړي؟

**کورنۍ دنده:**

۱- یو موټی غنم واخلئ او تخمین یی کړئ چې څوداني دي، او وروسته هغه حساب کړئ او وګورئ چې ستاسې په تخمین او په حقیقي شمیر کې څومره توپیر وجود لري.

۲- د اورلګیت یوه قطۍ را واخلئ او تخمین یي کړئ چې په منځ کې یي څومره د اورلګیت لرګي موجود دي وروسته دقطۍ په دننه کې د اورلګیت لرګي حساب کړئ او وګورئ چې څو داني دي. بیا نتیجه واخلئ چې ستاسې په تخمین او د لرګیو دحقیقي شمیر په منځ کې څومره توپیر وجود لري.

۳- د زیات مهارت د پیدا کولو لپاره هر ګروپ څومره شیان چې هره ورځ ګوري او هغه شیان چې د اندازې او شمیرلو وړ دي لومړۍ دې تخمین، وروسته له هغه دې اندازه او حساب کړي او و دې ګوري چې ترکومې اندازې پورې د هغو تخمین صحیح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم لوست

# په عمودي او افقي ډول د عددونو جمع کول

**هدف**: زده کوونکي وکړای شي عددونه په صحیح توګه په عمودي او افقي ډول جمع کړي.

**پوښتنې**:

- که چیرې وغواړئ چې دوه عددونه په عمودي ډول جمع کړئ د هغو رقمونه په څه ډول یو د بل لاندي لیکئ؟
- د عددونو جمع لومړی له کومې خوا څخه پیل کیږي؟
- عددونه څنګه په افقي ډول جمع کیږي؟

| | |
|---|---|
| ۱۳۵۴۲ ← | د جمعي لومړی جزء |
| + ۲۳۰۷ ← | د جمعي دوهم جزء |
| ۱۵۸۴۹ ← | د جمعي حاصل |

## د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې د لاندي پوښتنو د جمعی حاصل په لاس راوړي.

۱۸۹۵ + ۹۶۰۰ = ___

۱۷۴ + ۴۱۹ = ___

۲۶ + ۱۳ = ___

۷۱۵۶ + ۲۲۴۹ + ۳۱۷۴ = ___

۷۵۳ + ۶۳۶ + ۲۰۱ = ___

۹۷ + ۴۸ + ۵۰ = ___

ښاغلی ښوونکی! خپل زده کوونکي په ګروپونو تقسیم کړئ د خبرو اترو په واسطه چې یو د بل سره یې کوي په ټولګي کې دې پوښتنې حل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډه کړي چې:

- آیا زده کوونکي عددونه په عمودي ډول سره جمع کولای شي؟
- آیا زده کوونکي د دوو یا څو عددونو د جمعې حاصل په افقي ډول په صحیح توګه سره په لاس راوړلای شي؟

## کورنۍ دنده:

لاندې پوښتنې حل کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۲۱۲۹ | ۴۲۸۳ | ۲۸۲۵ |
| ۲۴۳۸ | ۳۱۷۲ | ۴۹۴۸ |
| ۱۳۵۷ | ۱۵۹۲ | ۳۵۱۷ |
| + ۱۲۳۸ | + ۴۲۲۱ | + ۲۱۲۸ |
| | | |

لاندې عددونه په افقي ډول سره جمع کړئ.

۷۱۴۹ + ۱۵۰۳ = ?

۹۰۱۷ + ۳۳۸۴ = ?

۵۸۲۰۱ + ۳۱۰۵۲ = ?

۹۱۰۳۲ + ۱۴۳۲۱ + ۲۸۱۵۰ = ?

۷۰۰۴۰ + ۷۹۲۱۳ + ۳۵۰۴۲ = ?

**ښاغلی ښوونکی!** زده کوونکي د کورنۍ دندې د اجرا لپاره په پرله پسې توګه تشویق کړئ کورنۍ دنده یې وګورئ او د ستونزو په حلولو کې ورته لارښونه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عبارتي پوښتنې:

۱- په **۱۳۸۳** کال **۱۸۵۴** تنه زمونږ له هېواد څخه د حج د فریضې د ادا کولو لپاره بیت الله شریف ته تللي، په **۱۳۸۴** کال **۲۱۲۵۰** تنه بیت اله شریف ته تللي دي د حاجیانو شمیر په دواړو کلونو کې څو تنه کیږي؟

۲- یو بزګر یوه غوا په **۲۱۴۰۰** افغانۍ واخیستله او یو غوایه یې په **۱۹۸۵۰** افغانۍ واخیست معلوم یې کړئ چې نو موړي بزګر څومره افغانۍ مصرف کړي دي؟

۳- د واکسیناتورانو یو ګروپ په یوه اونۍ کې **۲۵۹۸۰** کوچنیان او په بله اونۍ کې **۲۸۶۴۵** کوچنیان واکسین کړي دي، معلوم کړئ چې نوموړي ګروپ په دواړو اونیو کې څومره کوچنیان واکسین کړي دي؟

۴- یو ښوال(**۶۴۹۷۵**) افغانۍ انګور او (**۲۰۵۹۰**) افغانۍ مڼې خرڅې کړي دي معلوم کړئ چې نوموړي ښوال د څومره افغانیو میوه خرڅه کړېده؟

**ښاغلی** ښوونکی! زده کوونکي په ګروپونو تقسیم او هره پوښتنه یو ګروپ ته ورکړئ تر څو زده کوونکي په خپل منځ کې بحث و کړي او هغه حل کړي او بیا د هرې پوښتنې مفهوم په ساده ژبه ووایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### خلورم لوست

# په عمودي او افقي ډول د عددونو تفریق کول

**هدف**: زده کوونکي د تفریق عملیه په عمودي او افقي ډول سره په صحیح توګه سرته ورسوي.

**پوښتنې**:

- که چیرې وغواړئ دوه عددونه په عمودي ډول یو دبل څخه تفریق کړئ عددونه یو دبل لاندې څه ډول لیکئ؟
- د تفریق عملیه لومړی له کومې خوا څخه پیل کیږي؟
- که و غواړئ چې دوه عددونه یو د بل څخه په افقي ډول تفریق کړئ څنګه عمل کوئ؟

مفروق منه ← ۲۳۸
مفروق ← ۱۱۴ -
د تفریق حاصل ← ۱۲۴

۲۳۸ — ۱۱۴ = ۱۲۴

۴۴۲ — ۲۶۸ = ۱۷۴

### د زده کوونکو فعالیت:

د زده کوونکو هر ګروپ دې د تفریق یوه، یوه پوښتنه په عمودي او افقي ډول له مشورې کولو څخه وروسته حل کړي.

| | |
|---|---|
| ۲۹۸۶<br>۱۵۴۰ —<br>_____ | ۸۷۰۲<br>۴۵۷۹ —<br>_____ |
| ۲۵۱۲۴<br>۱۳۸۵۰ —<br>_____ | ۴۷۳۵<br>۳۵۲۹ —<br>_____ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۲۵۰ - ۱۳۴۵ = ?
۵۰۴۳ - ۲۹۸۷ = ?
۹۸۷۴ - ۳۲۵۱ = ?
۷۵۲۳۸ - ۴۳۲۱۵ = ?

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دي خپل ځان داډه کړي چې:

- آیا زده کوونکي د تفریق پوښتني په عمودي شکل په صحیح ډول سره حل کولای شي؟
- آیا زده کوونکي د عددونو د تفریق حاصل په افقي شکل سره په صحیح ډول پیدا کولای شي؟

## کورنۍ دنده:

لاندې پوښتنې حل کړئ:

| | |
|---|---|
| ۶۷۳۶۲ − ۱۳۰۹۱ | ۸۳۵۰۰ − ۱۹۳۴۷ |
| ۹۳۵۴۰ − ۷۲۰۳۵ | ۷۱۱۰۵ − ۳۹۸۷۲ |

ښاغلی ښوونکی! زده کوونکي په څلورو ګروپونو و ویشئ او هر ګروپ ته یوه پوښتنه په عمودي ډول او یوه پوښتنه په افقي ډول ورکړئ تر څو یو دبل په مشورې سره پوښتني حل کړي. کله چیري زده کوونکي ستونزي ولري هغوی ته لار ښوونه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې پوښتنې په افقی ډول سره حل کړئ؟

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴۹۴۵ | - | ۲۳۸۹ | = | ? |
| ۵۷۲۳ | - | ۳۷۹۸ | = | ? |
| ۲۳۴۵۹ | - | ۱۵۲۳۰ | = | ? |
| ۴۲۷۱۳ | - | ۲۸۴۵۲ | = | ? |

## عبارتي پوښتنې:

۱- فرید (۶۹۰) افغانۍ در لودې، په (۱۶۰) افغانیو یې قلم او کتابچه واخیستل، معلوم کړئ چې له نومړې سره څو افغانۍ پاتې دي؟

۲- د احمد د پلار سره (۲۳۴۷۵) افغانۍ موجودې وې په (۱۳۵۰) افغانیو یې احمد ته کالي واخیستل، معلوم کړئ چې له نومړي سره څومره افغانۍ پاتې دي؟

۳- د یو لومړني ښونځي د زده کوونکو ټنوت شمیر (۴۳۴۰) تنه دی چې د هغو څخه (۳۵۰) تنه هلکان دي د دې. ښوونځي د نجونو شمیر به څو تنه وي؟

۴- یو سړی د خپل کور د جوړولو لپاره (۲۲۳۴۰) دانو خښتو ته ضرورت لري که چیرې نومړي (۱۵۲۹۰) دانې خښتې برابرې کړې وي معلوم کړئ چې نورو څو دانو خښتو ته اړتیا لري؟

۵- په یوه کلي کې (۲۴۷۲۰) تنه کوچنیان باید واکسین شي. که ګمارل شوی ګروپ (۱۳۱۹۹) تنه کوچنیان واکسین کړي وي څومره شمیر کوچنیان پاتې دي چې واکسین شي؟

**ښاغلی** ښوونکی دې د زده کوونکو دنده په منظم ډول سره وګوري او د ستونزو په صورت کې دې هغوی ته لارښونه و کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم لوست

# ضرب

**هدف**: زده کوونکي وکړای شي د ضرب علمیه په صحیح توګه سرته ورسوي.

مثال:

| | |
|---|---|
| ۱۲۶ | ← د ضرب لومړی جزء |
| ۱۲ × | ← د ضرب دوهم جزء |
| ۲۵۲ | |
| ۱۲۶+ | |
| ۱۵۱۲ | ← د ضرب حاصل |

**پوښتني**:

- که چېرې وغواړئ دوه عددونه چې د یوه څخه زیات رقمونه ولري په عمودي ډول ضرب کړئ د عددونو رقمونه څنګه یو د بل لاندې لیکلای شئ؟
- د ضرب عملیه څه ډول او له کوم لوري پیل کیږي؟

## د زده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې د لاندې پوښتنو په برخه کې خبرې اترې وکړي او هغه دې حل کړي.

| | | |
|---|---|---|
| ۷۱۳ <br> ۲۳ × | ۹۲۴ <br> ۵۲ × | ۸۲۴ <br> ۶۳ × |
| ۱۲۵۴ <br> ۳۸ × | ۴۱۸۹ <br> ۷۶ × | ۲۳۹۳ <br> ۹۷ × |

ښاغلی ښوونکی! د عبارتي پوښتنو مفهوم په ډیر ساده ډول سره زده کوونکو ته وواياست. د پورته پوښتنو په حل کې دې زده کوونکي فعاله برخه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې خپل ځان ډاډه کړي چې:

- زده کوونکي د ضرب عمليه په صحيح ډول سره اجرا کولای شي.
- زده کوونکي هغه پوښتنې چې حل کوي امتحان کولای شي؟

## کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې وليکي او وروسته دې حل کړي.

| | | |
|---|---|---|
| ۶۳۹ × ۷۰ | ۷۰۸ × ۴۶ | ۹۴۱ × ۲۵ |

## تمرين

لاندې پوښتنې حل کړئ؟

| | | |
|---|---|---|
| ۹۷۲۴ × ۸۵ | ۵۵۰۴ × ۲۲ | ۱۷۰۴ × ۱۳ |
| ۲۹ × ۸۵ | ۲۵۷۸ × ۷۲ | ۱۸۴۳ × ۱۲ |
| ۷۰۲۴ × ۲۲ | ۵۲۷۰ × ۵۹ | ۳۹۸۹ × ۷۵ |

**ښاغلی ښوونکی:** زده کوونکي په ګروپونو باندې تقسيم کړئ چې پور ته پوښتنې پخپل منځ کې له خبرو اترو نه وروسته حل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عبارتي پوښتنې:

۱- یو بزگر خپل (**۳۷۵**) منه غنم چې د یو من غنمو بیه (**۵۶**) افغانۍ ده پلورلی دي معلوم کړئ چې نوموړي بزگر څومره افغانۍ په لاس راوړي دي؟

**۲**- د یوه‌کلي اوسیدونکو د یوه محراب جومات د جوړولو لپاره مرسته وکړه که چېرې د ذکرشوي کلي (۱۲۶۷) تنو دا ثواب گټلی وي او د کلي هر تن **۲۵۰** افغانۍ ورکړې وي، معلوم کړئ چې د جومات له پاره څومره افغانۍ را ټولې شوې دي؟

**۳**-د واکسیناتورانو یو گروپ په یوه ورځ کې (**۵۴۰**) تنه کوچنیان واکسین کوي معلوم کړئ، چې نوموړی گروپ به په (**۱۵**) ورځو کې څو تنه کوچنیان واکسین کړي؟

**۴**-یو بڼوال (**۲۴۵**) منه انگور له خپل باغ څخه پلوري که نوموړی بڼوال یو من انگور په (**۱۶۵**) افغانیو وپلوري، معلوم کړئ چې څو افغانۍ به په لاس راوړي؟

ښاغلی ښوونکی! زده کوونکي د کورنۍ دندې د سرته رسولو لپاره تشویق او هغه په منظم ډول سره وگورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم لوست

# د دوه رقمي او درې رقمي عددونو تقسیم په یو رقمي عدد باندې

**هدف**: زده کوونکي وکړای شي د دوه رقمي او درې رقمي عددونو تقسیم په یو رقمي عدد باندې په صحیح ډول سرته ورسوي او بیا یې امتحان کړي.

مثال : مقسوم علیه ← ۶ | ۷۳ ← مقسوم

خارج قسمت ← ۱۲

– ۶

۱۳

– ۱۲

پاتې ← ۱

**پوښتنې**:

- که چېرې و غواړئ چې یو دوه رقمي عدد په یو رقمي عدد باندې تقسیم کړئ عملیه څه ډول پیل کېږي؟
- د تقسیم په عملیه کې څه وخت پاتې موجود وي او څه وخت پاتې وجود نلري؟
- که چیرې وغواړئ د تقسیم یوه پوښتنه وروسته د حل څخه امتحان کړئ څه کوئ؟

## د زده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې په ټاکلو ګروپونو کې په پوښتنې باندې فکر وکړي او له خبرو او اترو وروسته دې په خپلو منځو کې حل کړي.

ښاغلی ښوونکی! زده کوونکي په ګروپونو باندې وویشئ او هر ګروپ ته یوه عبارتي پوښتنه وټاکئ. زده کوونکي دې له خبرو اترو او مباحثې څخه وروسته پوښتنه حل کړي او همدارنګه کوشش و کړئ چې د هرې پوښتنې مفهوم په ساده ژبه هر یوه ګروپ ته ور زده کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۸۴ \| ۲ | ۹۱ \| ۴ | ۶۸ \| ۴ |
| ۶۷۲ \| ۲ | ۸۴۷ \| ۷ | ۷۱۱ \| ۳ |

**ارزونه:**

ښاغلی ښوونکی دې په دې متيقن شي چې!

- آيا زده کوونکي د تقسيم عمليه په صحيح ډول سرته رسولی شي؟
- آيا زده کوونکي د تقسيم پوښتنې د حل امتحان کولای شي؟

**کورنۍ دنده:**

زده کوونکي دې لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې وليکي او وروسته دې حل او امتحان کړي.

| | | |
|---|---|---|
| ۴۲۵ \| ۵ | ۳۴۴ \| ۶ | ۳۸۵ \| ۵ |
| ۷۳۲ \| ۸ | ۲۴۵ \| ۴ | ۹۵۶ \| ۷ |
| ۳۲۸ \| ۶ | ۳۵۰ \| ۵ | ۲۹۴ \| ۹ |

ښاغلی ښوونکی! د کورنۍ دندې اجرا کول د ارزښت څخه ډک وښياست او هر وخت کورنۍ دنده و ګورئ او که چېرې زده کوونکي ستونزې ولري هغوي ته لار ښوونه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عبارتي پوښتنې:

۱- يو سوداګر **۸۵** منه غنم په **۵** تنو بې وزلو خلکو باندې په برابر ډول ويشي معلوم کړئ چې هر تن ته څو منه غنم رسيږي؟

۲- د احمد د تاريخ کتاب **۱۲۵** مخونه لري که چېرې هغه د مهال ويش سره سم هره ورځ **۱۵** مخه مطالعه کړي معلوم کړئ چې احمد به نوموړی کتاب په څو ورځو کې خلاص کړي؟

۳- دولت غواړي چې **۴۰۰** کڅوړې کيمياوي سره په **۲۰** تنو بزګرانو باندې په برابر ډول وويشي معلوم کړئ چې هر بزګر ته څو کڅوړې رسيږي؟

۴- د کرهنې وزارت غواړي چې د منو **۳۵۰** اصلاح شوي نيالګي پر **۲۵** تنو بڼوالو باندې په برابر ډو ل تقسيم کړي معلوم کړئ چې هر بڼ لرونکي ته څو نيالګي رسيږي؟

ښاغلی ښوونکی: دې عبارتي پوښتنې زده کوونکو ته په ډير ساده ډول وښيي او زده کوونکي دې د هغه په حل کې په ګروپي ډول سره کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی


# د عددونو طبقه بندي

**اووم لوست:**

## د عددونو لوستل او ليکل تر مليارد پورې

**هدف**: زده کوونکي وکړای شي د عددونو مقامي قيمتونه تر مليارد پورې په ښه توګه ولولي او وليکي.

لاندې شکل ته پاملرنه وکړئ:




**پوښتنې:**

- د ښي خوا څخه کيڼې خواته لومړي درې ځايونه(خانې) په څه نامه ياديږي؟
- دوهم درې ځايونه په څه نوم ياديږي؟
- هره طبقه څو مرتبې لري او هره مرتبه د څه په نامه ياديږي؟

| د يويزو طبقه | | | د زريزو طبقه | | | د مليونو طبقه | | | د ملياردو طبقه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| يويز | لسيز | سليز | زريز | لس زريز | سل زريز | مليون | لس مليون | سل مليون | مليارد | لس مليارد | سل مليارد |
| لومړۍ مرتبه | دوهمه مرتبه | دريمه مرتبه | لومړۍ مرتبه | دوهمه مرتبه | دريمه مرتبه | لومړۍ مرتبه | دوهمه مرتبه | دريمه مرتبه | لومړۍ مرتبه | دوهمه مرتبه | دريمه مرتبه |

ښوونکي صاحب دې پورتنی جدول د چارت په شکل رسم او د پوښتنې په وخت کې دې وکاروي. زده کوونکي دې د (۸۷۱۴۳۵۲۲۴) عدد په ګروپې ډول طبقه بندي کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې ۷۸۱۴۳۵۲۲۴ عدد په ګروپي ډول د طبقه بندۍ په جدول کې په اړوندو مرتبو کې ولیکي.

| د یویزو طبقه | | | د زریزو طبقه | | | د ملیونو طبقه | | | د ملیاردو طبقه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| یویز | لسیز | سلیز | زریز | لس زریز | سل زریز | ملیون | لس ملیون | سل ملیون | ملیارد | لس ملیارد | سل ملیارد |
| | | | | | | | | | | | |

زده کوونکي دې ووایي چې نوموړی عدد له څو طبقو څخه جوړ شوی دی او رقمونه يې په کومو مرتبو کې واقع دي.




زده کوونکي دې په ګروپي کار کې د يو او بل سره له مذاکرې څخه وروسته:

- په پورتني چوکاټ پورې اړوند عدد ولیکي؟
- عدد دې په طبقو کې ولیکي؟
- نوموړی عدد دې ولولي؟

ښاغلی ښوونکی دې پورتنی جدول د چارټ په شکل رسم او د پوښتنې په وخت کې دې استعمال کړي. زده کوونکي دې د (۸۷۱۴۳۵۲۲۴) عدد په ګروپي ډول طبقه بندي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې خپل ځان ډاډه کړي چې:

- آیا زده کوونکي کولای شي چې د نوموړي عدد رقمونه د طبقو په مرتبو کې په صحیح ډول سره ولیکي؟
- آیا زده کوونکي تر ملیارد پورې راکړل شوي عددونه طبقه بندي کولای او لوستلای شي؟
- که چېرې یو عدد په عبارت وویل شي آیا زده کوونکي هغه عدد لیکلای شي؟

## کورنۍ دنده:

د ۷۳۰۲۰۰۱۹۵ عدد رقمونه په لاندې جدول کې په مرتبو کې ولیکئ؟

| د یویزو طبقه | | | د زریزو طبقه | | | د ملیونو طبقه | | | د ملیاردو طبقه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| یویز | لسیز | سلیز | زریز | لس زریز | سل زریز | ملیون | لس ملیون | سل ملیون | ملیارد | لس ملیارد | سل ملیارد |
| | | | | | | | | | | | |

- د ۱۳۴۹۲۷۸ عدد طبقه بندي او وروسته یې ولولئ؟
- د (یو سلو درې ملیونه پنځه سوه څلور ویشت زره نهه سوه اووه دېرش) عدد ولیکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تمرين:

۱ ـ لاندې عددونه طبقه بندي کړئ او وروسته يې ولولئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۴۳۲ | ۱۰۰۰۰۰۰ | ۱۱۱۵۹۰۱۳۰۰ |
| ۵۹۷۰ | ۴۱۳۹۴۵ | ۳۲۲۴۵۳۷۴۹ |
| ۱۰۰۰۰ | ۲۰۱۵۴۷ | ۱۱۷۹۹۹۴۸۰۵ |
| ۴۳۷۰۴ | ۱۹۳۴۷۱۵ | ۲۴۵۵۳۲۲۷۰۰ |
| ۸۷۰۰۵ | ۲۳۴۵۷۸۱ | ۳۹۰۰۷۰۰۵۰۱ |

۲- لاندې عددونه وليکئ.

- څلور زره يوسلو څلور ويشت.
- اووه او يازره نهه سوه پنځه څلويښت.
- اووه او يازره څلور سوه دوه.
- درې اتيا زره څلويښت.
- دوه سوه درويشت زره نهه سوه.
- يو مليون درې سوه نوي زره څلور سوه درويشت.
- دولس مليونه درې سوه څلور اتيا زره دوه سوه پنځه پنځوس.
- يوسلو پنځه څلويښت مليونه اووه سوه نهه شپيته زره نهه سوه څلور ديرش.
- يو مليارد دوه سوه څلور ديرش مليونه پنځه سوه يوويشت زره يو سلو يو ديرش

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اتم لوست**

# د عددونو پراخه (توسعوي) ښودل

**هدف**: زده کوونکي وکړای شي عددونه په پراخه شکل سره ولیکي او د هغو مفهوم په صحیح ډول درک کړي.

**مثال : د ۳۲۴۵عدد کولای شو داسي ولیکو:**

**۳۲۴۵ = ۳۰۰۰ + ۲۰۰ + ۴۰ + ۵**

**پوښتني**:

- د ۷۴۳۶۲ عدد د څو لس زره، څوزره، څو سوه، څو لسو او څو یویزو څخه جوړ شوی دی؟
- هغه عدد به کوم وي چي د (اووه زریزو، پنځه زریزو، دوه زریزو، اته سلیزو، نهه لسیزو، او شپږ یویزو) څخه جوړ شوی وي.

## د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دي په څلورو ګروپونوکي د لاندي عددونو په برخه کي فکر وکړي او هغه دي په پراخه ډول سره ولیکي.

۵۳۷۴ = ... + ... + ... + ...

۷۲۵۱ = ... + ... + ... + ...

۴۲۳۲۴ = ... + ... + ... + ...

۹۲۸۴۳۵= ... + ... + ... + ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه هر ګروپ دې لاندې جدول ته توجه و کړي او له خبرو اترو وروسته دې هغه ډک کړي.

| عددونه | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ٣٥ | | ٣٠ | | | | |
| ٢٧٣ | ٣ | | ٢٠٠ | | | |
| ١٥۴٢ | | ۴٠ | | ١٠٠٠ | | |
| ٢٣٢٧٢ | ٢ | | ٧٠٠ | | ٢٠٠٠٠ | |
| ١۴٢٣٧۴ | | ٧٠ | | ٢٠٠٠ | | ١٠٠٠٠٠ |

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې ډاډه شي چې:
- زده کوونکو د يو عدد رقمونه په پراخه ډول سره درک کړي دي.
- زده کوونکي کولای شي هر عدد ته په پراخه ډول سره پراختيا ورکړي.

## کورنی دنده:

١- د ٣٧۴١ عدد جوړ شوی دی له:

| ٠٠٠ زريز | ، | ٠٠٠ سليز | ، | ٠٠٠ لسيز | او | ٠٠٠يويز |
|---|---|---|---|---|---|---|

٢- ٥٥٩٧٢ عدد له:

◯ لس زريزو ◯ زريزو ◯ سليزو ◯ لسيزو او ◯يويزو څخه جوړ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- لاندې عددونه په پراخه ډول سره و ليکئ.

۵۴۷۹ = ... + ... + ... + ...

۴۹۷۳۵ = ... + ... + ... + ...

۲۱۸۸۲۴ = ... + ... + ... + ...

۲۷۳۸۳۲۱۹ = ... + ... + ... + ...

۳۱۲۱۹۱۸۷۲ = ... + ... + ... + ...

۴- اړوند عددونه يې وليکئ؟

۳ زريز ۷ سليز او ۷ يويز........................... کيږي.

۹ لس زريز ۸ زريز ۲ سليز او ۷ يويز.............. کيږي.

۲ لس زريز ۳ زريز ۴ يويز............................ کيږي.

## تمرين

۱. ۲۵۷۹۴ عدد جوړ شوی دی له:

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ...يويز | ، | ... لسيز | ، | ... سل يز | ، | ... زريز | او | ...لس زريز |

۲. د لاندې هر يوه عبارت اړوند عدد هغو ته مخامخ وليکئ.

- ۳ زريز ۵ سليز ۷ لس يز او ۹ يويز ...................
- ۸ لس زريز ۲ زريز ۳ سويز ۲ لسيز او ۵ يويز.................
- ۳ مليون ۴ سل زريز ۷ لس زريز ۵ زريز ۹ سليز ۲ لسيز او ۳ يويز.............

۳. لاندې عددونه په پراخه ډول سره وليکئ.

۴۹۷۲ = ... + ... + ... + ...

۲۸۵۴۱ = ... + ... + ... + ...

۵۳۰۴۹۲ = ... + ... + ... + ...

۲۵۲۹۸۷۲ = ... + ... + ... + ...

ښاغلی ښوونکی دې کوښښ وکړي چې زده کوونکي د تمرين هره پوښتنه د خبرو اترو او ګروپي کار له لارې حل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم څپرکی

## نهم لوست

# څلور ګوني عمليې
# تر مليارد پورې د عددونو جمع کول

**هدف**: زده کوونکي وکولای شي د جمعي عمليه تر مليارد پورې په صحيح ډول ترسره کړي.

| | |
|---|---|
| ۹۲۷۶۸۴۱۳۰ | ← د جمعي لومړی جزء |
| + ۳۹۲۵۰۴۲۵۴ | ← د جمعي دوهم جزء |
| | ← د جمعي حاصل |

**پوښتني**:

- که چېرې و غواړو چې دوه لوی عددونه يو له بل سره جمع کړو د عددونو د رقمونو مرتبې او طبقې بايد څنګه يو دبل لاندې وليکو؟
- عددونه بايد څنګه يو دبل لاندې وليکو؟
- که چېرې دا کار ونکړو څه نقص لري؟
- د جمعي عمليه بايد له کومې خوا څخه پيل کړو؟

## د زده کوونکو فعاليت:

- زده کوونکي دې د ۱۰۲۴۵۹ او ۵۴۰۹۰ عددونه يو دبل لاندې وليکي.
- زده کوونکي دې د پورته دوه عددونو د جمعي حاصل په لاس راوړي.

ښاغلی ښوونکی! زده کوونکي دې ستاسو تر نظر لاندې پورته فعاليتونه په ګروپونو کې په مشوره سره حل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ارزونه:

ښاغلي ښوونکي دې خپل ځان ډاډه کړي چې:

- زده کوونکي کولای شي د دوه ورکړل شوو عددونو رقمونه په اړوندو مرتبو او طبقو کې یو د بل لاندې په صحیح توګه ولیکي.
- زده کوونکي د جمعې عملیه په صحیح ډول سره لومړی د یویز له کومې مرتبې څخه پیل کوي.

## کورنۍ دنده:

۱- د عددونو هره جوړه لکه (۸۹۵۰۲۷) او (۱۳۲۹۰۰۰) او همدارنګه د (۵۷۳۲۰۰۰۹) او (۲۵۲۹۸۰۰۱) یو دبل لاندې ولیکئ او بیا یې جمع کړئ؟

۲- په لاندې جدول کې د هر ستون د جمعې حاصل په لاس راوړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۲۱۸۹۳۵۱ | ۷۳۸۰۵۹۳ | ۲۳۷۵ |
| ۳۱۰۵۷۸ | ۴۰۷۲ | ۵۴۰۰۹ |
| ۲۹۶۴ | ۵۱۷۲۶۸ | ۴۰۷۵۸۶ |
| | | |

۳- جمع یې کړئ:

۴۵۱۲۰۹
+ ۲۰۱۷۳۰

۳۱۹۵۰۶۸
+ ۵۳۰۰۵۴۲

۵۸۰۰۹۲۳۷۵
+ ۶۱۷۳۱۵۸۰۰

۱۷۹۶۹۵۰۸۰
+ ۹۱۱۰۰۳۴۱۹

ښاغلي ښوونکی! زده کوونکي دې لومړی پوښتنې په خپلو کتابچو کې ورسوي او وروسته دې حل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تمرين

جمع یې کړئ:

۶۰۰۵۴۷۹۳
+ ۲۱۵۴۷۰۰۰

۷۹۹۵۳۰۰۰
+ ۸۰۵۰۴۷۸۵

۳۶۷۴۵۳۲۱
+ ۸۴۵۷۹۶۳۲

۶۳۴۰۸۹۰۰
+ ۳۴۲۷۳۴۵۸

۸۹۰۵۰۴۲۱۲
+ ۲۵۶۶۸۹۴۵۶

۷۰۲۳۷۶۵۳۶
+ ۴۳۴۵۹۲۶۰۰

## عبارتي پوښتنې:

۱- په یوه شرکت کې دري تنه سوداګر ګډون لري که چېري د یوه برخه (۲۳۷۹۰۰۰) افغانۍ دبل برخه (۸۱۰۲۵۹۴) افغانۍ او د دریم برخه یې (۳۷۴۲۵۵۰) افغانۍ وي دنوموړي شرکت مجموعي پانګه معلومه کړئ؟

۲- که چېرې په تقریبي ډول د کابل د ښار نفوس (۱۹۷۵۴۳)، د مزارشریف دښار (۸۲۴۳۷۵) او د کندهار د ښار (۹۲۵۷۸۲) تنه وي د دري واړو ښارونو نفوس به څومره وي؟

ښاغلی ښوونکي دې د تمرین پوښتنې د زده کوونکو سره حل کړي او د ستونزو په موجودیت کې دې ورسره مرسته او لارښوونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم لوست

# د جمعي د عمليې امتحان

**هدف**: زده کوونکي د جمعي د عمليې په امتحان باندې پوه شي.

مثال:

| | | |
|---|---|---|
| د جمعي لومړی جزء | ← | ۴۳۷۸۹ |
| د جمعي دوهم جزء | ← | ۲۳۴۵ + |
| د جمعي حاصل | ← | ۴۶۱۳۴ |

**پوښتني**:

- د دې لپاره چې پوه شو پورته مثال صحیح حل شوی دی او که نه څه باید وکړو؟ د یوې حل شوې پوښتنې امتحان څه ګټه لري؟
- آیا د جمعي د عملیې د امتحان لپاره بلې کومې عملیې ته اړتیا شته؟

مثال :

۴۶۱۳۴
− ۲۳۴۵

## د زده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې ګروپي کار او د یو بل سره د خبرو اترو په واسطه معلوم کړي او وروسته دې ووایي چې په ورکړل شوي مثال کې: د (۴۶۱۳۴) عدد د جمعي د عملیې کومه برخه ده؟

- (۲۳۴۵) عدد د جمعي د عملیې کومه برخه ده؟
- زده کوونکي دې د امتحان عملیې لپاره تفریق سر ته ورسوي او بیا دې ووایي چې کوم عدد په لاس راغلی دئ؟
- زده کوونکي دې ووایي چې د پورتنیو فعالیتونو له سر ته رسولو څخه وروسته کومې نتیجې ته رسیدلي دي؟

ښاغلي ښوونکي: دې زده کوونکي د جمعي د عملیې دامتحان په مفهوم باندې چې د تفریق د عملیې په واسطه کیږي، پوه کړي.او د امتحان د عملیې ارزښت دې هغوی ته ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ارزونه:

- آیا زده کوونکو د جمعې د عملیې د امتحان مفهوم په صحیح ډول سره درک کړی دی؟
- آیا زده کوونکي په آسانی سره کولای شي چې د جمعې یوه پوښتنه وروسته د حل څخه امتحان کړي ؟
- آیا زده کوونکي د جمعې د عملیې د امتحان په اهمیت باندې پوه شوي دي؟

## کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لومړی پوښتني حل او وروسته دې هره پوښتنه امتحان کړي.

| | |
|---|---|
| ۳۰۵۰۴۱ + ۳۷۰۰ | ۵۹۰۰۴۱۰ + ۶۳۲۵۷۶ |
| ۷۹۶۵۰۰۰ + ۲۳۰۰۷۶۵ | ۴۵۳۰۲۲۴ + ۱۴۷۸۹ |
| ۹۹۰۱۴۸۷ + ۳۶۵۴ | ۸۱۶۵۴۲۰۱۰ + ۵۲۱۹۱۳۵۲۵ |
| ۳۰۰۴۵۷۶ + ۲۱۲۹۰۰۰ | ۵۰۷۷۰۸۹۴۰ + ۶۲۸۹۲۳۵۸۱ |

ښاغلی ښوونکی دې په منظم ډول د زده کوونکو کورنۍ دنده وګوري او د هغې په پرله پسې کرنه کې دې زده کونکي تشویق کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یوولسم لوست**

# د عددونو تفریق تر ملیارد پورې

**هدف**: زده کوونکي و کولای شي د تفریق عملیه تر ملیارد پورې په صحیح توګه سر ته ورسوي.

**پوښتنې**:

- که چېرې وغواړو دوه لوی عددونه یو دبل څخه تفریق کړو د هرې مرتبې رقمونه او د هرې طبقې عددونه باید څنګه یو دبل لاندې ولیکو؟
- که چېرې دا کار ونشي نقص یې څه دی؟
- د تفریق عملیه له کومې خوا څخه پیل کوو؟
- که چېرې د تفریق د عملیې د سرته رسولو په وخت کې د مفروق یو رقم د مفروق منه د اړوندې مرتبې له رقم څخه لوی وي څه باید وکړو؟

**د زده کوونکو فعالیت**:

۱- له ۶۹۷۰۵۲۳۰ عدد څخه د ۲۸۹۳۵۶۷۴ عدد په عمودي ډول سره تفریق کړئ؟

۲-

| | |
|---|---|
| ۳۵۶۷۲۱۳۰۴ | مفروق منه |
| ۲۱۳۲۴۶۰۹۷ ــ | مفروق |
| | د تفریق حاصل |

ښاغلی ښوونکی! زده کوونکي دې پورته فعالیت په ټولګي کې په ګروپي ډول تر سره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د هر ستو ن د عددونو د تفريق حاصل پيدا کړئ؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| مفروق منه | ۷۱۵۳۶۳۵۱۲ | ۳۴۶۵۸۰۰۰۴ | ۹۸۸۰۰۲۴۹۷ |
| مفروق | -۱۷۹۳۰۰ | - ۱۴۰۳۰۱۲ | - ۵۳۱۴۲۹۰۵ |
| د تفريق حاصل | | | |

**ارزونه:**

ښاغلی ښوونکی دې خپل ځان ډاډه کړي چې:

- زده کوونکي کولای شي چې د دوو ورکړ شوو عددونو رقمونه، مرتبې او طبقې په صحيح ډول يو د بل لاندې وليکي؟
- ايا زده کوونکي د تفريق د عمليې په وخت کې د پور (قرض) اخيستلو د اړتيا په صورت کې کومې ستونزې نلري؟
- ايا زده کوونکو په صحيح ډول سره درک کړې ده چې د تفريق د عمليې په وخت کې د عمليې سر ته رسول لومړی د ښی خوا څخه پيل کيږي؟

**کورنۍ دنده:**

۱- د (۴۳۲۰۱۲۵) عدد د (۱۲۵۲۹۷۰۴) له عدد څخه تفريق کړئ؟

۲- تفريق يې کړئ؟

```
  ۵۴۳۰۲۱۶۶۹
- ۲۹۸۵۰۳۴۱
```

```
  ۶۰۷۱۰۵۹۲۳
- ۱۴۳۵۰۸۷۶
```

```
  ۲۹۰۰۳۵۴۱۷۵
- ۱۵۶۷۲۱۹۰۴۰
```

```
  ۴۸۱۳۴۵۷۶۰۲
- ۲۳۷۹۶۲۳۵۸۴
```

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د لاندې هريو ستون د تفريق حاصل په لاس را وړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| مفروق منه | ۲۳۰۶۴۹۳۲۱ | ۹۴۳۶۵۲۳۰۸ | ۷۵۲۲۰۰۳۱۴ |
| مفروق | -۱۹۵۴۳۷۶۸۱ | - ۳۰۷۴۹۸۷۲۳ | - ۱۲۸۷۶۵۲۱۹ |
| د تفريق حاصل | | | |

## تمرين

تفريق يې کړئ:

```
  ۷۳۹۰۲۵۳۴۱
- ۳۸۵۰۰۴۲۱۳
```

```
  ۸۵۹۳۷۸۳۷۰
- ۵۴۳۵ ۰۰۸۴۲
```

```
  ۸۴۳۴۵۹۰۶۲
- ۶۰۳۸۳۶۹۰۱
```

```
  ۹۶۸۴۰۰۶۳۲
- ۷۲۱ ۱۹۷۴۴۳
```

```
  ۵۳۵۷۰۶۸۴۳۲
- ۴۱۴۶۹۳۰۷۸۰
```

```
  ۲۶۲۷۵۶۰۱ ۰۴
- ۱۳۹۴۰۱۲۳۵۸
```

```
  ۷۶۷۳۵۴۰۹۱۸
- ۶۵۹۸۷۶۶۳۷۵
```

```
  ۳۵۳۰۰۰۶۷۹۸
- ۱۴۴۹۷۸۸۵۳۶
```

ښاغلي ښوونکي دې د زده کوونکو کورنی دنده په غور سره وګوري. د ستونزو په صورت کې دې هغوی ته لارښوونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عبارتي پوښتنې

۱- د دوو عددونو د جمعې حاصل (**۵۳۱۹۰۰۰۴۳**) دی که د نومړو عددونو یو عدد یې (۱۴۹۰۲۴۰۰۰) وي بل عدد یې پیدا کړئ؟

۲- یو بزګر د خپلو حاصلاتو د خرڅولو له درکه (**۱۳۸۴۵۰۰**) افغانۍ په لاس راوړي دي او د نومړو پیسو څخه یې یوه عراده تراکتور په (**۵۳۸۲۱۴**) افغانیو واخیست، معلوم کړئ چې څومره افغانۍ ورسره پاتې دي؟

۳- دوه تنه سوداګر په یوه شرکت کې چې سرمایه یې (**۳۱۹۲۵۰۰۰**) افغانۍ ده شریک دي که چېرې د یوه برخه (۱۲۰۸۳۹۰۰) افغانې وي دبل برخه یې معلومه کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دولسم لوست**:

# د تفريق د عمليې امتحان

**هدف**: - زده کوونکي د تفريق عمليې د امتحان په طريقه باندې پوه شي.

**مثال :**

| | | |
|---|---|---|
| مفروق منه | ← | ۷۴۳۲۵ |
| مفروق | ← | -۹۲۴۸ |
| د تفريق حاصل | ← | ۲۵۰۷۷ |

**پوښتنې**:

- د دې لپاره چې پوه شو پورته مثال په صحيح ډول سره حل شوی دی او که نه بايد څه وکړو؟
- د يوې حل شوې پوښتنې امتحان څه ګټه لري؟
- د تفريق عمليې د امتحان لپاره د بلې کومې عمليې سر ته رسولو ته اړتيا شته؟

امتحان:

$$
\begin{array}{r}
۲۵۰۷۷ \\
+ \quad ۹۲۴۸ \\
\hline
\end{array}
$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د زده کوونکو فعالیت:**

- زده کوونکي په ګروپي کار کې د یو او بل سره له خبرو اترو وروسته باید درک کړي چې:
- د ٦٥٠٧٧ عدد په پورته مثال کې د تفریق د عملیې کومه برخه ده؟
- د ٩٢۴٨ عدد په پورته مثال کې د تفریق د عملیې کومه برخه ده نوم یې واخلئ؟
- زده کوونکي دې د امتحان عملیې (جمع) ترسره کړي او ودې وایي چې کوم عدد په لاس راځي؟
- زده کوونکي دې ووایي چې د پورته فعالیت څخه وروسته کومې نتیجې ته ورسیدل؟

**ارزونه:**

ښاغلی ښوونکی دې خپل ځان ډاډمن کړي چې:

- ایا زده کوونکو د تفریق عملیې د امتحان مفهوم درک کړی دی؟
- ایا زده کوونکي په آسانۍ سره کولای شي چې د تفریق یوه پوښتنه دحل څخه وروسته امتحان کړي؟
- ایا زده کوونکي د تفریق د عملیې په امتحان پوه شوي دي؟

ښاغلی ښوونکي دې د پوښتنو په طرح کولو او د زده کوونکو څخه د صحیح ځوابونو په اخیستلو سره د تفریق عملیې د امتحان موضوع زده کوونکو ته ورزده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لاندې پوښتنې لومړی حل او وروسته دې هره پوښتنه امتحان کړي .

| | |
|---|---|
| ۵۰۰۷۹۱۴<br>۶۶۸۳۲۰ _ | ۳۴۹۰۵۶۰۷<br>۸۲۴۳۶۶۵ _ |
| ۷۳۰۵۰۴۲۱<br>۱۳۸۵۹۷۶ _ | ۸۳۰۰۰۷۲۹<br>۶۵۴۳۹۰۳ _ |
| ۲۳۹۰۶۵۷۴۳<br>۸۲۵۹۳۰۰۷ _ | ۶۵۹۷۲۳۶۰<br>۶۲۰۰۵۹۸۷ _ |
| ۹۴۳۰۰۱۸۵۳<br>۸۷۹۲۶۵۴۲۰ _ | ۳۰۴۰۱۹۰۵۰<br>۲۹۸۷۴۰۲۰۹ _ |

ښاغلی ښوونکی دې د زده کوونکو کورنۍ دندې و ګوري او د هغو په سر ته رسولو کې دې ورسره مرسته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### دیار لسم لوست

# د دوه رقمي عدد ضرب په دوه رقمي عدد کې

**هدف**: زده کوونکي وکړای شي چې یو دوه رقمي عدد په بل دوه رقمي عدد کې په صحیح توګه ضرب کړي.

مثالونه:

| (ب) | | (الف) | |
|---|---|---|---|
| ۹۴ ← | د ضرب لومړی جزء | ۶۷ ← | د ضرب لومړی جزء |
| × ۷۸ ← | د ضرب دوهم جزء | × ۳۲ ← | د ضرب دوهم جزء |
| ۷۵۲ ← | ۸×۹۴ | ۱۳۴ ← | ۲×۶۷ |
| + ۶۵۸۰ ← | ۷۰×۹۴ | +۲۰۱۰ ← | ۳۰×۶۷ |
| ۷۳۳۲ ← | د ضرب حاصل | ۲۱۴۴ ← | د ضرب حاصل |

**پوښتنې**:

- د ضرب عملیه بله کومه عملیه آسانه کوي؟
- که چېرې وغواړو دوه، دوه رقمي عددونه په عمودي توګه ضرب کړو د ضرب عملیه څنګه پیل کوو؟
- که وغواړو د ضرب د دوهم جزء د لسیز رقم د ضرب د لومړي جزء په یویزکې ضرب کړو د ضرب حاصل په کوم ځای کې لیکو؟

**د زده کوونکو فعالیت**:

- زده کوونکي دې ګروپي کار وکړي له یو بل سره د بحث څخه وروسته دې مناسب عددونه د چوکاټ د تشو ځایونو لپاره پیدا او ولیکي؟
- یو یو تن دې د خپل ګروپ په استازیتوب توري دړې ته ولاړشي او دخپل ګروپ دکار او فعالیت په برخه کې دې نورو ته معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ په تشو ځایونو کې مناسب عددونه ولیکئ.

۲۳
×۱۲
۴۶ ← ... × ۲۳
+۲۳۰ ← ... × ۲۳
۲۷۶

هر ګروپ دې په لاندې پوښتنه کې فکر او بحث وکړي او د ضرب حاصل دې پیدا کړي؟

پوښتنه :

۳۴ د ضرب لومړی جزء
۲۱ د ضرب دوهم جزء
×
..
..
... ← د ضرب حاصل

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې اطمینان پیدا کړي چې:

- ایا زده کوونکي د دوو دوه رقمي عددونو په ضرب کولو پوه شوي دي؟
- ایا زده کوونکي د ضرب عملیې په جریان کې حاصل شوي عددونه په خپلو مرتبو کې په صحیح توګه لیکلای شي؟

ښاغلی ښوونکی! کله چې زده کوونکي خپل فعالیتونه په ګروپ کې تر سره کوي، د هر ګروپ د کار څخه څارنه (مراقبت) وکړئ او که ستونزې و لري لارښوونه ورته وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کورنۍ دنده:

د لاندې پوښتنو د ضرب حاصل په لاس راوړئ؟

| | |
|---|---|
| ۵۰ × ۳۵ | ۴۴ × ۱۱ |
| ۶۲ × ۳۰ | ۹۷ × ۴۵ |

## تمرین

د لاندې پوښتنو د ضرب حاصل په لاس راوړئ؟

| | | |
|---|---|---|
| ۵۹ × ۳۳ | ۲۸ × ۴۲ | ۷۲ × ۳۴ |
| ۸۳ × ۵۷ | ۹۲ × ۲۳ | ۲۸ × ۵۵ |
| ۷۹ × ۲۳ | ۸۵ × ۲۳ | ۹۸ × ۲۲ |
| ۲۳ × ۴۴ | ۷۷ × ۲۹ | ۸۹ × ۷۴ |

ښاغلی ښوونکی دې د زده کوونکو کورنۍ دنده وګوري که ستونزې ولري لارښوونه دې ورته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خوارلسم لوست**

# په درې رقمي عدد کې د دوه رقمي عدد ضرب

**هدف**: زده کوونکي وکړای شي په آسانۍ سره دوه رقمي عددونه په درې رقمي عددونو کې په صحیح ډول ضرب کړي.

**مثال:**

| | | |
|---|---|---|
| د ضرب لومړی جزء | ← | ۱۶۳ |
| د ضرب دوهم جزء | ← | ۴۲ × |
| ۲×۱۶۳ | ← | ۳۲۶ |
| ۴۰×۱۶۳ | ← | +۶۵۲۰ |
| د ضرب حاصل | ← | ۶۸۴۶ |

**پوښتنې**:

- که چېرې وغواړو دوه رقمي عدد په درې رقمي عدد کې ضرب کړو لومړی باید د ضرب د دوهم جزء کوم عدد د ضرب د لومړي جزء په ټولو رقمونو کې ضرب کړو؟
- که د ضرب د دوهم جزء د لسیز رقم د ضرب د لومړي جزء د یویز په رقم کې ضرب کړو د ضرب حاصل باید تر کومې مرتبې لاندې ولیکو؟

## د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې د ګروپي کار په وخت کې په نقطه نقطه تشو ځایونو کې مناسب عدد ولیکي.

ښاغلی ښوونکی دې د لومړي چوکاټ مثال په یو لوی چارت کې ولیکي او بیا دې د ټولګي مخ ته ځوړند کړئ له زده کوونکو ځخه دې پوښتنې وکړي او صحیح ځوابونه دې ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تشو ځايونو کې مناسب عددونه وليکئ.

```
      ۱۳۴
       ۲۵
  ×
  ----------
      ۶۷۰   ←   ....× ۱۳۴
    +۲۶۸    ←   .... × ۱۳۴
  ----------
    ۳۳۵۰
```

د ګروپ هر غړی دې د لاندې پوښتنې د حل لپاره يو دبل سره خبرې اترې و کړي او حاصل دې په لاس راوړي.

پوښتنه:

```
       ۳۱۲  ←  د ضرب لومړی جزء
  ×     ۳۱  ←  د ضرب دوهم جزء
  ----------
       ...
       ...
  ----------
      ....  ←  د ضرب حاصل
```

**ارزونه:**

ښاغلی ښوونکی دې خپل ځان ډاډه کړي چې:

- زده کوونکي د دوه رقمي عدد ضرب په درې قمي عدد کې د ضرب حاصل په صحيح ډول په لاس راوړلای شي.
- آيا زده کوونکي د داسې ضرب د عمليې په سرته رسولو کې ستونزې نه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کورنۍ دنده:

د لاندې پوښتنو د ضرب حاصل په لاس راوړئ؟

۳۴۰
× ۲۲

۵۴۳
× ۶۷

۳۷۹
× ۴۰

۴۰۶
× ۲۴

۴۰۶
× ۳۱

۶۶۲
× ۷۸

۹۴۵
× ۵۷

۸۷۶
× ۹۵

ښاغلی ښوونکی! ارزونه ډېر ارزښت لري په ارزونه کې مختلفې طریقې وجود لري. د طریقې ټاکل ستاسو په خوښه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تمرین

د لاندې عددونو د ضرب حاصل په لاس راوړئ؟

| | | |
|---|---|---|
| ۵۴۶ × ۴۲ | ۶۷۸ × ۵۹ | ۷۴۲ × ۲۴ |
| ۸۳۳ × ۴۶ | ۹۶۸ × ۵۹ | ۵۸۹ × ۶۳ |
| ۳۰۴ × ۶۹ | ۷۱۰ × ۲۲ | ۹۰۰ × ۳۲ |
| ۴۵۲ × ۲۰ | ۱۱۲ × ۷۴ | ۵۵۵ × ۱۲ |
| ۷۸۰ × ۱۳ | ۷۰۷ × ۲۶ | ۸۹۴ × ۷۸ |

ښاغلی ښوونکی! د زده کوونکو پوښتني حل او لارښوونه ورته وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پنځلسم لوست**

# په څلور رقمي عدد کې د دوه رقمي عدد ضرب

**هدف**: زده کوونکي وکړای شي چې دوه رقمي عددونه په څلور رقمي عددونو کې په صحیح ډول ضرب کړي.

مثال :

| | | |
|---|---|---|
| د ضرب لومړی جزء | ← | ۲۳۴۱ |
| د ضرب دویم جزء | ← | ۳۲ × |
| ۲×۲۳۴۱ | ← | ۴۶۸۲ |
| ۳۰×۲۳۴۱ | ← | +۷۰۲۳۰ |
| د ضرب حاصل | ← | ۷۴۹۱۲ |

**پوښتني**:

- که چیرې د ضرب د دوهم جزء د یویزو رقم ٤ وي او مونږ هغه د ضرب په لومړي جزء کې ضرب کړو کولای شئ ووایئ چې په حقیقت د ضرب دوهم جزء په څو کې ضرب شوی دی؟
- که د ضرب د دوهم جزء د لسیزو رقم ۷ وي او مونږ هغه د ضرب په لومړي جزء کې ضرب کړو په دې صورت کې ویلای شئ چې په حقیقت کې د ضرب لومړی جزء په څو کې ضرب شوی دی؟

**د زده کوونکو فعالیت**:

- زده کوونکي دې په ګروپي کار کې د لاندې چوکاټ په نقطه نقطه ځایونو کې مناسب عددونه ولیکي؟
- د هر ګروپ غړي دې یو د بل سره تر خبرو اترو وروسته لاندې پوښتنه حل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مناسب عددونه په تشو ځایونو کې ولیکئ؟

```
       ١ ٢ ۵ ۴
 ×         ۴ ٣
 ─────────────
       ٣ ٧ ۶ ٢        ١٢۵۴ × ....
    +۵ ٠ ١ ۶ ٠        ١٢۵۴ × ....
 ─────────────
     ۵ ٣ ٩ ٢ ٢
```

پوښتنه :

```
       ۵٠۶۴ ←──── د ضرب لومړئ جزء
 ×       ٧٢ ←──── د ضرب دوهم جزء
 ──────────
       ....
      ....
 ──────────
      ..... ←──── د ضرب حاصل
```

## ارزونه:

ښاغلي ښوونکی دې خپل ځان ډاډه کړي چې:

- ایا د هر ګروپ غړي زده کوونکي په آسانۍ سره کولی شي یو دبل سره له خبرو اترو وروسته لاندې پوښتنه حل کړي؟
- ایا زده کوونکي کولای شي چې دوه رقمي عدد په څلور رقمي عدد کې ضرب کړي؟
- ایا زده کوونکي د دې ډول پوښتنو په حل کې ستونزې نلري؟

ښاغلی ښوونکی: کله چې د زده کوونکو څخه پوښتنې کوئ په ډیر ساده ډول د هغوی څخه پوښتنې وکړئ ترڅو زده کوونکي په آسانۍ سره وکولای شي پوه شي چې تاسو څه شی غواړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کورنۍ دنده:

لاندې پوښتنې حل کړئ؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۶۰۰۳ × ۴۵ | ۱۷۴۹ × ۵۰ | ۷۳۰۴ × ۹۳ | ۹۲۴ × ۸۰ |

## تمرین

لاندې پوښتنې حل کړئ؟

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲۹۵ × ۱۲ | ۲۸۶۱ × ۲۹ | ۴۰۳۸ × ۶۱ |
| ۸۴۰۰ × ۷۸ | ۷۰۰۵ × ۴۳ | ۱۰۰۰ × ۹۹ |
| ۳۶۰۴ × ۴۳ | ۵۱۳۰ × ۸۴ | ۷۳۲۶ × ۱۰ |
| ۳۰۹۸ × ۵۰ | ۲۱۹۸ × ۶۵ | ۸۳۵۴ × ۴۹ |

ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکي په ګروپونو تقسیم او د هر ګروپ لپاره دې له دریم تمرین څخه پوښتنې ورکړي ترڅو له خبرو اترو وروسته پوښتنې حل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شپاړسم لوست**

# په څو رقمي عدد کې د دوه رقمي عدد ضرب

**هدف**: زده کوونکي وکړای شي چې دوه رقمي عدد په څو رقمي عدد کې په آسانۍ سره ضرب کړي.

مثال :

| | | |
|---|---|---|
| د ضرب لومړی جزء | ← | ۱۳۸۵۲ |
| د ضرب دوهم جزء | ← | × ۴۶ |
| ۶×۱۳۸۵۲ | ← | ۸۳۱۱۲ |
| ۴۰×۱۳۸۵۲ | ← | +۵۵۴۰۸۰ |
| د ضرب حاصل | ← | ۶۳۷۱۹۲ |

**پوښتنې**:

- پورته مثال ته پاملرنه وکړئ چې د ضرب دوهم جزء څورقمي دی؟
- په دې مثال کې د ضرب دوهم جزء څو رقمي دی؟
- که چېرې وغواړو دغه عددونه ضرب کړو په لومړي وارکې څنګه عمل و کړو او په دویم وار کې باید څه وکړو؟

**د زده کوونکو فعالیت**:

- زده کوونکي په ګروپونو کې باید یو د بل سره تر خبرو اترو وروسته په لاندې چوکاټ کې د نقطې، نقطې په ځای مناسب عددونه ولیکي؟
- زده کوونکي دې په هر ګروپ کې یو دبل سره مشوره وکړي او هر ګروپ دې لاندې پوښتنه حل کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مناسب عدد په تشو ځایو نوکې ولیکئ.

۰۰۰ × ۲۳۱۵۴

۰۰۰ × ۲۳۱۵۴

| |
|---|
| ۲۳۱۵۴ |
| × ۳۲ |
| ۴۶۳۰۸ |
| + ۶۹۴۶۲ |
| ۷۴۰۹۲۸ |

پوښتنې :

| | |
|---|---|
| د ضرب لومړی جزء | ۶۸۵۹۴ |
| د ضرب دوهم جزء | × ۳۷ |
| | ۰۰۰۰۰ |
| | ۰۰۰۰۰ |
| د ضرب حاصل | ۰۰۰۰۰۰ |

## ارزونه:

ښوونکی دې خپل ځان ډاډمن کړي چې:

- ایا زده کوونکي کولای شي چې یو دوه رقمي عدد د څلور رقمي شخه په لوی (څو رقمي) عدد کې په آسانۍ سره ضرب کړي؟
- ایا زده کوونکي د دې ډول پوښتنو په حل کې اشتباه نه کوي؟

ښاغلی ښوونکی: د ارزونې مختلف ډولونه موجود دي کومه طریقه یا ډول چې تاسو ته آسانه ده او زده کوونکي ښه ورباندې پوهیږي د زده کوونکو په ارزونه کې ورڅخه کار واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کورنۍ دنده:

لاندې پوښتنې حل کړئ؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۸۵۴۳۲ | ۵۲۰۵۷۶ | ۴۳۲۹۸۷۱ | ۶۵۹۴۳۷۳ |
| × ۸۹ | × ۴۳ | × ۵۲ | × ۹۳ |

## تمرین

ضرب یې کړئ؟

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲۴۸۳ | ۲۳۰۵۴ | ۴۰۰۹۵ |
| × ۳۱ | × ۴۲ | × ۱۱ |
| ۸۴۶۱۳ | ۷۳۵۴۰ | ۷۰۴۰۹ |
| × ۲۷ | × ۳۳ | × ۲۸ |
| ۸۷۲۰۰ | ۴۳۴۱۷ | ۲۰۰۰۹ |
| × ۱۳ | × ۴۰ | × ۸۵ |
| ۳۵۷۲۱۴۰ | ۱۶۳۲۱۹۴ | ۲۵۸۷۹۳۶ |
| × ۳۲ | × ۶۵ | × ۴۶ |

ښاغلی ښوونکی: ارزونه مختلف ډولونه لري تاسې کولای شئ هره طریقه چې ستاسو لپاره ښه وي او ښه نتیجه ورڅخه اخستلای شئ د زده کوونکو په ارزونه کې د هغې څخه استفاده وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اوو لسم لوست**

# په دوه رقمي عدد باندې د دوه رقمي عدد تقسیم

**هدف**: زده کوونکي د دوه رقمي عدد تقسیم په بل دوه رقمي عدد، په طریقه باندې پوه شي.

مثال : مقسوم علیه ← ۱۱ | ۸۹ ← مقسوم

خارج قسمت ← ۸ | -۸۸

۱ ← پاتې(باقیمانده)

**پوښتنې**:

- که چېرې د دوه رقمي عددونو تقسیم په دوه رقمي عدد باندې پوښتنه راکړل شي ترڅو مونږ هغه حل کړو. د تقسیم د عملیې د اجرا څخه مخکې د مقسوم او مقسوم علیه په برخه کې باید څه فکر وکړو؟
- که چېرې له فکر کولو څخه وروسته د مثال په ډول په هغه تقسیم کې چې مقسوم علیه (۵) واري یا په تقریبي ډول او یا په پوره ډول په مقسوم کې شامل وي دغه عدد د تقسیم د علامې په کومه برخه کې باید ولیکو؟
- له فکر کولو وروسته کله چې خارج قسمت مو پیدا کړ دتقسیم پاتې عملیه باید څرنګه مخ ته یوسو.

**د زده کوونکو فعالیت**:

- ټول ګروپونه دي په جلا ډول سره د لاندې چوکاټ په داخل کې دپوښتنې په برخه کې فکر و کړي او تر خبرو اترو وروسته دې هغه حل کړي.
- د هر ګروپ استازی دي په خپل وار سره توري درې ته لاړ شي او نوموړې پوښتنه دې د دوهم ځل لپاره حل کړي.

ښاغلی ښوونکی! کله چې زده کوونکي په ګروپونو باندې وویشل شي په چوکات کې پوښتنه باید ټولو ګروپونو ته ورکړې شي چې هغوی د یو بل په مشورې سره حل کړي. تاسو د ټولو ګروپونو څخه څارنه وکړئ او مرسته ورسره وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال:

| | | | |
|---|---|---|---|
| مقسوم ← | ۸۰ | ۲۵ | ← مقسوم علیه |
| | ... | ... | ← خارج قسمت |
| پاتې ← | ... | | |

## ارزونه:

ښاغلي ښوونکي دې خپل ځان ډاډه کړي چې:

- زده کوونکي د دوه رقمي عددونو تقسیم په دوه رقمي عدد باندې په صحیح ډول پوه شوي دي.
- زده کوونکي د تقسیم د علمیې د سرته رسولو په وخت کې د دې رقم پوښتنو په حل کې ستونزې نلري.

## کورنۍ دنده:

لاندې پوښتنې حل کړئ.

| مقسوم | مقسوم علیه | مقسوم | مقسوم علیه |
|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۱۰ | ۴۵ | ۲۲ |
| ۷۴ | ۳۵ | ۹۴ | ۴۵ |
| ۶۷ | ۲۱ | ۸۶ | ۴۰ |

ښاغلي ښوونکي دې د زده کوونکو کورنۍ دنده وګوري که مشکل ولري په حل کې دې ورته لارښوونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تمرين

تقسیم یې کړئ؟

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | ۱۰ | ۳۴ | ۱۱ | ۴۴ | ۲۱ |
| ۵۳ | ۱۳ | ۶۰ | ۱۵ | ۶۹ | ۳۰ |
| ۷۴ | ۲۴ | ۷۷ | ۳۵ | ۸۰ | ۲۰ |
| ۸۷ | ۴۱ | ۹۳ | ۳۱ | ۹۹ | ۴۵ |

**لاندې پوښتنې حل کړئ.**

۱- یو سړی ۳۲ دانې چاکلیټ لري که چېرې هغه د خپلې کورنۍ د ۱۰ تنو غړو په منځ کې په برابر (مساوي) ډول تقسیم کړي معلوم یې کړئ چې د کورنۍ هر غړي ته څودانې چاکلیټ رسیږي او څو دانې ورسره پاتې کیږي؟

۲- ښوونکی (۸۴) پاڼې سپین کاغذ خپلو زده کوونکو ته چې ۲۸ تنه دي په برابر ډول ویشي معلوم یې کړئ چې هر تن ته څو پاڼې رسیږي؟

ښاغلی ښوونکی دې د پوښتنو په حل کې له زده کوونکو سره مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اتلسم لوست**

# په دوه رقمي عدد باندې د درې رقمي عدد تقسيم

**هدف**: زده کوونکي وکړای شي چې درې رقمي عدد په دوه رقمي عددباندې تقسیم کړي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| مقسوم ← | ۴۴۷ | ۲۱ | ← مقسوم علیه |
| | - ۴۲ | ۲۱ | ← خارج قسمت |
| | ۰۲۷ | | |
| | - ۲۱ | | |
| پاتې ← | ۰۶ | | |

**پوښتنې**:

- د درې رقمي عددونو تقسيم په دوه رقمي عدد باندې لومړی بايد له کومې خوا او د مقسوم څو رقمه له مقسوم علیه سره پرتله (مقايسه) کړو؟
- که چېرې د پرتله کولو په نتیجه کې بیا هم ولیدل شي چې مقسوم علیه لوی دی څه باید وکړو؟

**د زده کوونکو فعالیت**:

- زد ه کوونکي دې ګروپي کار وکړي او هر ګروپ دې د چوکاټ په دننه پوښتنه کې فکر وکړي د يو بل سره تر خبرو اترو (مناقشې) څخه وروسته دې هغه حل کړي.

ښاغلی ښوونکی دې د ګروپي کار د جریان مراقبت وکړي او که ستونزې وي لارښوونه او مرسته دې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه : مقسوم علیه ← ۳۰ | ۳۶۵ → مقسوم

خارج قسمت ← ۰۰

۰۰

۰۰

۰۰

پاتې → ۰۰۰

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دي خپل ځان ډاډمن کړي:

- آیا زده کوونکي د مقسوم او مقسوم علیه د رقمونو پرتله کې مشکل نلري؟
- آیا زده کوونکي خارج قسمت د مقسوم علیه له هر رقم سره په صحیح توګه ضرب کولای شي.

## کورنی دنده:

لاندې پوښتني حل کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۳۵ \| ۷۳۵ | ۹۷ \| ۵۶۳ | ۸۵ \| ۴۹۱ |

### تمرین

| | | |
|---|---|---|
| ۳۰ \| ۴۸۲ | ۱۷ \| ۶۲۴ | ۴۰ \| ۸۲۴ |
| ۵۳ \| ۹۸۲ | ۴۱ \| ۸۹۴ | ۲۱ \| ۷۴۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عبارتي پوښتنې:

۱- د يو ښوونځي د لومړي ټولګي د نويو زده کوونکو ټنوټ شمېر (**۵۴۰**) تنه دی که د ښوونځي اداره هغه په مساوي توګه په داسې ډول وويشي چې د هر ټولګي د ټنوټ شمېر (**۴۵**) تنه شي معلوم يې کړئ چې څو لومړي ټولګي جوړېږي ؟

۲- په يوه فابريکه کې ۱۲ پايې ماشينونه دي چې په هره دقيقه کې (**۸۲**) متره ټوکر توليد وي، معلوم کړئ چې يوه پايه ماشين په يوه دقيقه کې څو متره ټوکر توليدوي؟

ښاغلی ښوونکی! د پوښتنو عبارت په ساده او آسانه توګه زده کوونکو ته ووایاست چې په ښه ډول سره د پوښتنو په مفهوم پوه شي او حل يې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نولسم لوست

# په دوه رقمي عدد باندې د څلور رقمي عدد تقسیم

**هدف**: زده کوونکي و کړای شي چې څلور رقمي عدد په دوه رقمي عدد باندې په صحیح ډول تقسیم کړي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| مقسوم علیه ← | ۲۵ | ۳۲۱۴ | ← مقسوم |
| خارج قسمت ← | ۱۲۸ | ۲۵ - | |
| | | ۷۱ | |
| | | ۵۰ - | |
| | | ۲۱۴ | |
| | | ۲۰۰ - | |
| | | ۱۴ | ← پاتې |


**پوښتنې**:

- په عملیه کې لومړی د مقسوم ارقام د مقسوم علیه له ارقامو سره له کوم لوري او څه ډول پرتله کوو؟
- دا کار د تقسیم د عملیې په سرته رسولو کې په کومه اندازه ارزښت لري؟

## د زده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې ګروپي کار وکړي او هر ګروپ دې په چوکاټ کې دننه پوښتنې په برخه کې فکر وکړي او له خبرو اترو وروسته دې هغه حل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډه کړي چې:

- آیا زده کوونکي په آسانۍ سره کولای شي چې یو څلور رقمي عدد په دوه رقمي عددباندې تقسیم کړي؟
- زده کوونکي د پوښتنو د حل کولو په وخت کې غلطي نکوي؟

## کورنۍ دنده:

لاندې پوښتنې حل کړئ؟

۷۲۹۴ | ۳۱

۹۴۹۸ | ۴۵

۵۴۲۳ | ۵۰

۷۳۲۴ | ۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تمرين

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸۷ | ۳۲۶۳ | ۵۴ | ۱۶۷۴ | ۲۳ | ۱۳۱۱ |
| ۷۹ | ۶۵۸۷ | ۵۸ | ۴۷۶۵ | ۷۸ | ۱۵۶۰ |

### لاندې پوښتنې حل کړئ؟

۱-يوه ژرنده په هرو ۱۲ دقيقو کې يو من غنم اوړه کوي معلوم کړئ چې په ۲۵۳۲ دقيقو کې به څو منه غنم اوړه کړي؟

۲-يو بزګر په (۸۸) دقيقو کې يو جريب ځمکه يوې کوي معلوم کړئ چې په (۱۹۰۰) دقيقو کې به څو جريبه ځمکه يوې کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلم لوست

# د ضرب د عمليې امتحان

**هدف**: زده کوونکي د ضرب د علميې د امتحان له طريقې سره پيژندګلوي پيدا کړي.

مثال :

| | | |
|---|---|---|
| ۳۶۵ | ← د ضرب لومړی جزء | |
| × ۲۱ | ← د ضرب دوهم جز | |
| ۳۶۵ | | |
| +۷۳۰ | | |
| ۷۶۶۵ | ← د ضرب حاصل | |

**پوښتنې**:

- د ضرب د يوې حل شوې پوښتنې د امتحان لپاره کومې عمليې ته اړتيا شته؟
- د دې عمليې اجرا کول څنګه وتاکو؟
- د عمليې د اجرا څخه وروسته به څنګه پوه شو چې پوښتنه صحيح ده؟

**د زده کوونکو فعاليت**:

- زده کوونکي دې په ګروپي کار کې د امتحان عمليه يعنې (تقسيم) اجرا کړي.
- په ګروپي کار کې دې زده کوونکي تشخيص کړي چې په ذکر شوي مثالو کې د ضرب په عمليه کې د٧٦٦٥ عدد کوم جزء دی، نوم يې واخلئ.
- په ضمن کې دا روښانه کړئ چې د (٢١ عدد د ضرب په دې پوښتنه کې کوم جزء دی؟
- زده کوونکي دې د تقسيم عمليه اجرا کړي؟

ښاغلی ښوونکی دې په ګروپونو کښې د زده کوونکو فعاليت وڅاري او لارښوونه دې ورته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امتحان:

| ۷۶۶۵ | ۲۱ |
|---|---|
| ... | ... |
| ... | |
| ... | |
| ... | |
| ... | |
| .... | |

د ضرب دویم جزء = د ضرب لومړي جزء ÷ د ضرب حاصل

**ارزونه:**

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډه کړي چې:

- زده کوونکي د ضرب د عملیې په امتحان باندې په بشپړه توګه پوه شوي دي.
- آیا د ضرب د پوښتنې د آزمویلو د عملیې په وخت کې کوم مشکل نلري؟

**کورنۍ دنده:**

زده کوونکي دې لومړی لاندې پوښتنې حل او بیا دې امتحان کړي.

| | | |
|---|---|---|
| ۹۷ × ۲۱ | ۴۸ × ۱۳ | ۷۶ × ۴۵ |

**تمرین**

لاندې هره یوه پوښتنه حل او بیا یې امتحان کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۳۹۵ × ۶۴ | ۵۱۸ × ۹۶ | ۷۵۸ × ۶۲ |
| ۶۰۲ × ۷۱ | ۹۰۰ × ۵۷ | ۸۰۷ × ۹۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

### یوویشتم لوست

# د تقسیم د عملیې امتحان

**هدف**: زده کوونکی د تقسیم د عملیې په امتحان پوه او زده یې کړي.

**مثال**: مقسوم علیه ← ۴۷ ، مقسوم ← ۷۵۲ ، خارج قسمت ← ۱۶

```
۷۵۲ | ۴۷
-۴۷ | ۱۶
----
۲۸۲
-۲۸۲
----
۰۰۰
```

**پوښتنې**:

- د تقسیم د پوښتنې د امتحان لپاره کومې عملیې ته اړتیا لرو؟
- د دې عملیې اجزاوې به کومې وي؟
- د عملیې د اجرا څخه وروسته د پوښتنې د صحیح والي په برخه کې څنګه نتیجه اخیستلی شو؟

**د زده کوونکو فعالیت**:

- د زده کوونکو هر ګروپ دې د امتحان عملیه (ضرب) سر ته ورسوي او بیا دې نتیجه بیان کړي.

ښاغلی ښوونکې دې زده کوونکي د تقسیم د عملیې په برخه کې له دوه ډوله پوښتنو سره مخامخ کړې یو هغه پوښتنې چې پوره یا بشپړې ویشل کیږي او بل یې هغه پوښتنې دي چې له ویشلو وروسته پاتې لري. په دې برخه کې دې زده کوونکو ته معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امتحان: مقسوم علیه ← ۴۷
خارج قسمت ← ۱۶ ×

‏۰۰۰
‏۰۰
مقسوم ← ۰۰۰۰

مقسوم = خارج قسمت × مقسوم علیه

**ارزونه:**

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډه کړي چې:

- زده کوونکو د تقسیم د عملیې امتحان په ښه او صحیح توګه زده کړی دی او که نه؟
- هغوی د امتحان له عملیې څخه ښه نتیجه اخستلی شي؟

**کورنۍ دنده:**

لاندې پوښتنې حل او بیا یې امتحان کړئ؟

| | |
|---|---|
| ۳۰۰ ÷ ۲۵ | ۶۸۲ ÷ ۳۱ |
| ۴۵۰ ÷ ۳۰ | ۱۸۰ ÷ ۱۵ |

ښاغلي ښوونکی دې زده کوونکي پوه کړي، هغه تقسیم چې پاتې ولري د امتحان په وخت کې پاتې د مقسوم علیه او خارج قسمت د ضرب دحاصل سره جمع کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تقسیم د عملیې امتحان چې پاتې ولري

امتحان: مقسوم علیه ← ۳۶ | مقسوم ← ۹۰۲

| | |
|---|---|
| ۹۰۲ ← مقسوم | ۳۶ ← امتحان: مقسوم علیه |
| ۷۲- | ۲۵ ← خارج قسمت |
| ۱۸۲ | |
| ۱۸۰- | |
| ۲ ← پاتې | |

مقسوم = پاتې+ خارج قسمت × مقسوم علیه

**پوښتنې**:

- د تقسیم هغه پوښتنه چې پاتې ولري د امتحان لپاره څه شی د څه شي سره ضرب کړو.
- په پاتې باندې څه وکړو؟

امتحان:

$$\begin{array}{r} 36 \\ \times\ 25 \\ \hline \cdots \\ \cdots \\ \hline \cdots\cdot \end{array}$$

**د زده کوونکو فعالیت**:

- زده کوونکي دې د ګروپي کار پواسطه د ضرب هغه پوښتنه چې په پورته چوکاټ کې ده، حل کړي.
- وروسته دې زده کوونکي د یو بل په مشوره نتیجه بیان کړي.
- زده کوونکي دې د تقسیم پاتې د پورتني ضرب له حاصل سره جمع او د امتحان عملیه دې بشپړه کړي؟

ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکي په دې پوه کړي چې هغه د تقسیم سوال یا عملیه چې پاتې ولري په هغه کې پاتې د مقسوم علیه او خارج قسمت د حاصل ضرب سره جمع کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې! ځان ډاډه کړي چې:

- آیا زده کوونکي د تقسیم پوښتنه چې پاتې ونلري امتحان کولای شي؟
- زده کوونکي د تقسیم پوښتنه چې پاتې ولري امتحان کولای شي ؟

## کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لومړی لاندې پوښتنې حل او بیا دې امتحان کړي.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷۸۶ | ۳۵ | ۶۷۲ | ۵۴ | ۵۶۳ | ۵۱ |
| ۹۷۸ | ۴۱ | ۸۵۴ | ۲۱ | ۶۹۹ | ۳۳ |

ښاغلي ښوونکی دې د زده کوونکو کورنۍ دنده وګوري که چیرې ستونزې ولري لارښوونه دې ورته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی
## هندسه


### دوه ویشتم لوست

## د مثلث د محیط اندازه کول

**هدف**: زده کوونکي وکړای شي د هندسي شکلونو محیط پیدا کړي.

د مثلث، مربع، مستطیل او مضلع د محیط د اندازه کولو لپاره ددې هندسي شکلونو ضلعې سره جمع کوو د هغو د محیط اندازه لاسته راځي.

مثلث: مخامخ شکل یو مثلث دی




**پوښتنې**:

- د (ا ب ج) شکل کوم هندسي شکل دی نوم یې واخلئ؟
- دغه شکل څو ضلعې لري؟
- د هرې ضلع اوږدوالی په جلا توګه وواياست چې څوسانتي متره دی؟
- د دې له پاره چې دمثلث محیط پیدا کړو څه باید وکړو؟

ښاغلی ښوونکی دې: کوښښ و کړي چې د پورته هرې پوښتنې صحیح ځواب د زده کوونکو څخه تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زده کوونکو فعالیت:

- د زده کوونکو هر ګروپ دې په اړوند ګروپ کې د یو او بل د مشورې څخه وروسته د دې مثلث محیط پیدا کړي؟
- هر ګروپ ته دنده ورکړئ چې یو مثلث رسم او د خط کش پواسطه د هرې ضلعې اوږدوالی معلوم کړي؟
- د هر ګروپ زده کوونکي دې د هغه مثلث محیط پیدا کړي چې دوی په خپله رسم کړی دی؟


## ارزونه:


ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډه کړي چې:

- زده کوونکي کولای شي چې د یوه مثلث محیط معلوم کړي؟
- آیا زده کوونکي پوهېږي چې د مثلث د محیط د پیدا کولو له پاره د هغه د ضلعو د اوږدوالي پیداکولو ته اړتیا شته ؟

## کورنۍ دنده:

د لاندې مثلثونو محیط پیدا کړئ؟




(c) ketabton.com: The Digital Library

# تمرین

۱- درې مثلثونه رسم او د ضلعو اوږدوالی یې د خط کش پواسطه اندازه او بیا د هغه محیط پیدا کړئ؟

۲- د هر مثلث شکل، شی یا جسم چې په خپل چاپیریال کې ګورئ د امکان په صورت کې یې ضلعې اندازه او محیط یې پیدا کړئ؟

۳- د لاندې شکلونو محیط پیدا کړئ؟





ښاغلی ښوونکی دې د کاغذ څخه مستطیلونه جوړ او هر ګروپ ته دې توزیع کړي څو د هر ګروپ زده کوونکې د هغو ضلعې اندازه او محیط یې پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**درویشتم لوست**

# د مربع د محیط اندازه کول

**هدف**: زده کوونکي باید وکولاشي چې د مربع محیط پیدا کړي.




**پوښتنې**:

- د (ا ب ج د) شکل د څه په نوم یا دیږي؟
- دغه هندسي شکل څو ضلعې لري؟
- آیا د دې شکل ټولې ضلعې سره مساوي دي او که توپیر لري؟
- د دې هندسي شکل محیط څنګه پیدا کولای شو؟

**د زده کوونکو فعالیت**:

- زده کوونکي دې ګروپي کار و کړي او هر ګروپ دې په مشوره سره د پورتنۍ مربع محیط پیدا کړي؟
- زده کوونکي دې د هغو مربع ګانو محیط چې د ښوونکي پواسطه د کاغذ څخه جوړې او ورته ورکړل شوې دي پیدا کړي؟

**ارزونه**:

ښاغلی ښوونکی دې خپل ځان ډاډمن کړي چې:


- زده کوونکي په صحیح توګه د مربع محیط پیدا کولای شي.
- زده کوونکي د مربع د محیط په پیدا کولو کې کومه ستونزه نلري.

ښاغلي ښوونکي دې مربع ګانې له کاغذ څخه جوړې کړي او ټولګي ته دې راوړي. د ګروپي کار په وخت کې دې هر ګروپ ته یوه جوړه کړې مربع ورکړي چې زده کوونکي د هغې د هرې ضلعې او محیط اوږدوالی پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنۍ دنده:**

د لاندې مربع ګانو محیط پیدا کړئ؟




## تمرین

**د کاغذ ۴ مختلفې مربع ګانې جوړې کړئ او بیا یې د ضلعو اوږدوالی د خط کش په واسطه اندازه او محیط یې پیدا کړئ؟**


ښاغلي ښوونکي دې د کاغذ څخه مربع ګانې جوړې او ګروپونو ته دې ورکړي چې میحط یې پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورويشتم لوست

# د مستطيل د محيط اندازه کول

**هدف**: زده کوونکي و کولای شي د مستطيل محيط پيدا کړي؟




**پوښتنې**:

- د (ا ب ج د) شکل د څه په نامه يا ديږي؟
- دغه هندسي شکل څو ضلعې لري؟
- محيط يې څنګه پيدا کولای شو؟

## د زده کوونکو فعاليت:

- زده کوونکي دې د ګروپي کار په واسطه د (ا ب ج د) مستطيل محيط په صحيح توګه پيدا کړي.
- زده کوونکي دې د هغه مستطيل محيط چې د کاغذ څخه د ښاغلي ښوونکي پواسطه جوړ شوی او ګروپونو ته ويشل شوی دی پيدا کړي.

ښاغلي ښوونکي دې له کاغذ څخه مختلف مستطيلونه جوړ او ټولګي ته دې راوړي بيا دې، يو، يو مستطيل هر ګروپ ته ورکړي چې زده کوونکي د هغه اوږدوالي او سور د خط کش په واسطه اندازه کړي او محيط يې پيداکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ارزونه:

ښاغلی ښوونکي دې ځان ډاډمن کړي چې:

- زده کوونکي کولای شي په صحيح توګه د مستطيل محيط پيدا کړي؟
- زده کوونکي د مستطيل د محيط د پيدا کولو په وخت کې له کوم مشکل سره نه مخامخ کېږي؟

## کورنۍ دنده:

د مستطيل محيط پيدا کړئ؟




## تمرين

۱- يوه سپينه پاڼه چې د مستطيل شکل لري او ږدوالی او سوريې اندازه او محيط يې پيدا کړئ؟

۲- د خپل ميز د سطحې محيط پيدا کړئ؟

۳- د خپل ټولګي د تورې دړې محيط پيدا کړئ؟


ښاغلي ښوونکي دې د پورته پوښتنو په حل کولو کې مرسته او لارښوونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مضلع د محیط اندازه کول

**هدف**: زده کوونکي و کړای شي چې د مضلع محیط په آسانۍ سره پیدا کړي.




**پوښتنې**:

- د (ا ب ج د ه) هندسي شکل د څه په نامه یادیږي؟
- دغه هندسي شکل څو ضلعې لري؟
- د دې هندسي شکل محیط څنګه پیدا کولای شو؟

## د زده کوونکو فعالیت:

- د هر ګروپ زده کوونکي دې د یو او بل په مشورې د (ا ب ج د هـ) د مضلع محیط پیدا کړي.
- زده کوونکي دې د هغو مضلع ګانو محیط چې د ښاغلي ښوونکي له خوا ترتیب او ورکړشوي دي پیدا کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ارزونه:**

ښاغلی ښوونکی دې خپل ځان ډاډمن کړي چې:
- زده کوونکي کولای شي د مضلع محیط په صحیح ډول پیدا کړي؟
- زده کوونکي د مضلع په پیدا کولو کې له کومې اشتباه او غلطۍ سره نه مخامخ کېږي؟

**کورنۍ دنده:**

- د کاغذ څخه دوه مضلع جوړې کړئ؟
- د هرې مضلع د ضلعو اوږدوالی د خط کش پواسطه پیدا کړئ؟
- د هرې یوې مضلع محیط پیدا کړئ؟

## تمرین

۱- د هغه مثلث محیط پیدا کړئ چې د څنډو اوږدوالی یې ۲، ۸، ۱۰، سانتي متره وي؟

۲- دهغې مربع د محیط اوږدوالی پیداکړئ چې د هرې ضلعې اوږدوالی یې ۵ سانتي متره وي؟

۳- د مستطیل محیط پیداکړئ چې اوږدوالی یې ۲ سانتي متره او سور یې ۴ سانتي متره وي؟

۴- د هغه مربع محیط پیدا کړئ چې دیوې ضلعې اوږدوالی یې ۸ سانتي متره وي؟

۵- د هغې مستطیل محیط پیداکړئ چې اوږدوالی یې ۸ سانتي متره او سوریې ۵ سانتي متره وي؟

۶- د هغې مضلع محیط پیداکړئ چې د څنډو (ضلعو) اوږدوالی یې (۱، ۲، ۲، ۲، ۳) سانتي متره وي؟


ښاغلی ښوونکی دې د کاغذ څخه مضلع ګانې جوړې او هر ګروپ ته دې ور کړي چې محیط یې پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ ویشتم لوست

# د سطحې پېژندنه

**هدف**: زده کوونکي سطح و پېژني او دهغې سره پېژندګلوي پیدا کړي.




**پوښتني**:

- تاسې هریو د خپلو لاسونو ورغوی په میز باندې کېږدئ او یوې خواته یې کش کړئ او ووایاست چې څه حس کوئ؟
- ستاسو د میز دغه برخه دڅه په نوم یاد یږي؟
- د خپل ټولګي په دېوال باندې لاس کش کړئ او ووایاست چې هغه دیوال د څه په نامه یادوي.
- که چېرې خط کش په مېز باندې کیږدې او ټولې برخې د میز په مخ تماس و کړي دغه سطحې ته څه ډول سطحه وایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زده کوونکو فعالیت:

- د زده کوونکو هر ګروپ دې د مشورې څخه وروسته د دوو هوارو جسمونو د سطحو نومونه واخلي او د کاغذ په مخ دې ولیکي ؟

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډه کړي چې:

- آیا زده کوونکو سطح په صحیح او ښه توګه پېژندلې ده؟
- آیا زده کوونکي پوهېږي چې دې سطحو ته هوارې سطحې وایي؟

## کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د دریو شیانو د سطحې نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکي چې د هوارې سطحې ښودونکې وي ؟

ښاغلی ښوونکی دې د زده کوونکو کورنۍ دندې وګوري او لازښوونه دې ورته وکړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

**اووه ویشتم لوست**

# د دایرې پېژندنه

**هدف**: زده کوونکي دایره، د دایرې سطحه، قطر، شعاع او وتر و پېژني او هغه تشخیص کړای شي.


**دایره**: مخامخ شکل یوه دایره او د (الف) نقطه د دایرې مرکز دی.





**د دایرې سطحه**: په مخامخ شکل کې توره شوې برخه د دایرې سطحه رابنیي.





**د دایرې قطر**: په مخامخ شکل کې د ($\overline{ب ج}$) توته خط د دایرې قطر دی.




**د دایرې شعاع**: په مخامخ شکل کې د ($\overline{اج}$) توته خط د دایرې شعاع دي.




**د دایرې وتر**: د ($\overline{د ه}$) خط په مخامخ شکل کې د دایرې وتر بنیي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**پوښتنې:**

- د يوشي نوم واخلئ چې د دايرې شکل ولري؟
- د دايرې سطحه په فلزي سکوکې و ښياست؟
- په دقت سره دشکلونو له مخې ووايا ست چې قطر او شعاع يو له بله څه توپير لري؟
- د شکل له مخې ووایاست چې قطر او وتر څه توپېر لري؟

## د زده کوونکو فعاليت:

- زده کوونکي دې ګروپي کار وکړي او هر ګروپ دې له کاغذ څخه پرې شوې دايره کې، چې د ښاغلي ښوونکي له خوا ورته ورکړل شوې ده، د دايرې قطر، شعاع او وتر په جلا ، جلا توګه و ښيي.

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې خپل ځان ډاډه کړي چې:

- زده کوونکي د دايرې، قطر، شعاع او وتر تشخيص کولای شي.

## کورنۍ دنده:

- درې کاغذونه د دايرې په شکل پرې کړئ د دايرې شعاع، قطر او وتر په کې په جلا ، جلا توګه و ښياست؟

ښاغلی ښوونکی دې څو کاغذونه د منظمو دايرو په شکل پرې کړي او ټولګي دې له ځان سره راوړي، ګروپونو ته دې وويشي تر څو زده کوونکي د دايرې شعاع، قطر او وتر په هغو کې رسم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اته ويشتم لوست**

# د سطحې د واحد پېژندنه او د مربع مساحت پيداکول


**هدف**: زده کوونکي د سطحې واحد او د مربع مساحت پيدا کړای شي.


د سطحې واحد سانتي متر مربع ده

**پوښتنې**:

- د سطحې د اندازه کولو واحد څه شی دی نوم يې واخلئ؟
- يو سانتي متر مربع سطحه کومې اندازې لري؟

يو سانتي متر مربع د هغې مربع څخه عبارت ده چې هره څنډه يې يو سانتي متر وي. لکه:




ښاغلی ښوونکی دي کوښښ وکړي چې د پوښتنو ځوابونه له زده کوونکو څخه په لاس راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زده کوونکو فعالیت:

- د زده کوونکو هر ګروپ دې د (ا ب ج د) د مربع په برخه کې فکر و کړي؟
- و دې شمېري چې دغه مربع د څو کوچنیو مربعګانو څخه جوړه شوې ده؟
- نتیجه دې په لاس راوړي چې د (ا ب ج د) د مربع مساحت به څو مره وي؟

ضلع × ضلع = د مربع مساحت

زده کوونکي دې د ګروپي کار په واسطه د (ا ب ج د) د مربع مساحت پیدا کړي؟

**د ( اب ج د ) د مربع مساحت = ۰۰۰ × ۰۰۰ = ۰۰۰**

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډمن کړي چې:
- زده کوونکو د سطحې واحد پیژندلی او په مفهوم باندې یې پوه شوي دي؟
- ایا زده کوونکي کولای شي دیوې مربع مساحت پیدا کړي؟

## کورنۍ دنده:

۱- د هغې مربع مساحت پیدا کړئ چې د یوې ضلعې اوږدوالی یې **۵** سانتي متره وي؟
۲- دهغې مربع مساحت پیدا کړئ چې د هرې ضلعې اوږدولی یې ۸ سانتي متره وي؟
۳- د هغې مربع مساحت پیداکړئ چې د هرې ضلعې اوږدوالی یې ۱۰ سانتي متره وي؟
۴- د کاغذ څخه په مختلفو سایزونو دوه دانې مربع ګانې جوړې کړئ او وروسته یې مساحت پیدا کړئ؟


ښاغلی ښوونکی دې د زده کوونکو کورنۍ دنده وګوري اوهغوی دې د کورنۍ دندې په سرته رسولو کې تشویق کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### نه ویشتم لوست

# د مستطیل د مساحت پیدا کول

**هدف**: زده کوونکي د مستطیل مساحت پیدا کړی شي.



**پوښتني**:

- د (ا ب ج د) مستطیل د څوکوچنیو مربعګانو څخه جوړشوی دی.
- د مستطیل مساحت به نظرشکل ته څو مره وي.
- کومو څنډو ته د مستطیل اوږدوالی او کومو ته يې سور وايي.

سور(عرض) × اوږدوالی(طول) = د مستطیل مساحت

**د زده کوونکو فعالیت**:

- د زده کوونکو هر ګروپ دې د (ا ب ج د) مستطیل مساحت پیدا کړي؟

...×...= د مستطیل مساحت

- زده کوونکي دسطحي د مقیاس واحد هم باید ولیکي؟

ښاغلی ښوونکی دې د زده کوونکو کورنۍ دنده وګوري او که مشکل ولري لارښوونه دې ورته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ارزونه:**

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډه کړي چې:
- زده کوونکي کولای شي د مستطیل مساحت پیدا کړي؟
- ایا زده کوونکي د سطحې واحد په کار وړای شي او په مفهوم یې پوه شوي دي؟

**کورنۍ دنده:**

۱- د هغه مستطیل مساحت پیدا کړئ چې اوږدوالی(طول) یې ۷ سانتي متره او سور(عرض) یې ۳ سانتي متره وي؟

۲- که چېرې د مستطیل اوږدولی ۱۰ سانتي متره او سورېې ۵ سانتي متره وي مساحت یې پیدا کړئ؟

## تمرین

۱- د هغه مثلث محیط پیدا کړئ چې د څنډو اوږدوالی یې ۵، ۷، ۹ سانتي متره وي؟

۲- د هغه مربع محیط پیدا کړئ چې د هرې ضلعې اوږدوالی یې ۳ سانتي متره وي؟

۳- د هغه مستطیل محیط پیدا کړئ چې اوږدوالی یې ۲ سانتي متره او سور یې ۴ سانتي متره وي؟

۴- یوه مضلع رسم او د هرې ضلعې اوږدوالی او محیط یې پیدا کړئ؟

۵- د هغې مربع مساحت پیدا کړئ چې هره ضلع یې ۷ سانتي متره وي؟

۶- د هغه مستطیل مساحت پیدا کړئ چې اوږدوالي یې ۹ سانتي متره او سور یې ۵ سانتي متره وي؟

ښاغلی ښوونکی دې له زده کوونکوسره د تمرین سوالونو په حل کې مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دېرشم لوست

# خلورم څپرکی

# عـــام کسر


## د کسر د صورت، مخرج او کسري خط (بر خط) مفهوم

**هدف**: زده کوونکي د کسر په مفهوم پوه او هم د یوه کسر صورت، مخرج او کسری خط وپېژني




**پوښتنې**:

- په پورته شکل کې یوه دایره په څو مساوي برخو وېشل شوې ده؟
- څو برخې یې توري شوې دي؟
- د څو برخو څخه څو برخې یې توري شوې دي؟




**د زده کوونکو فعالیت**:

- زده کوونکي دې په ګروپونو کې شکل ته پاملرنه وکړي او د جملو تش ځایونه دې په مناسبو عددونو سره ډک کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

په مخامخ شکل کې مربع ......... مساوي برخو وېشل شوې ده.

......... برخې يې تورې شوي دي.

......... برخو څخه ......... برخې تورې شوي دي.

د مربع $\frac{.........}{.........}$ برخې تورې شوي دي.




**ارزونه:**

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډمن کړي چې:


- آيا زده کوونکي د يوه کسر د صورت او مخرج په مفهوم پوه شوي دي؟
- ايا زده کوونکو کسري خط ياد بر خط پېژندلی دی؟

**کورنۍ دنده:**

د لاندې شکلونو اړوند کسرونه وليکئ؟



$\frac{...}{...}$ $\frac{...}{...}$ $\frac{...}{...}$ $\frac{...}{...}$




$\frac{...}{...}$ $\frac{...}{...}$ $\frac{...}{...}$ $\frac{...}{...}$

ښاغلی ښوونکی دې هر ګروپ ته دغه شکل ور کړي تر څو زده کوونکي د يو بل سره له مشورې وروسته جملې په مناسبو عددونو سره بشپړې او تش ځايونه ډک کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## تمرین


لاندې کسرونه د شکلونو له مخې ولیکئ.




◆◆◆
———
◆◆◆



◆◆◆
———
◆◆◆



◆◆◆
———
◆◆◆




◆◆◆
———
◆◆◆

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ديرشم لوست

# د هغو كسرونو مقايسه كول چې مخرجونه يې سره مساوي وي

**هدف**: زده كوونكي هغه كسرونه چې مخرجونه يې سره مساوي وي پرتله كړای شي.





**پوښتني**:

- كه چېرې په دوو كسرونو كې مخرجونه مساوي او صورتونه يې مختلف وي كوم كسريې لوی دی؟
- په دوو كسرونو كې چې مخرجونه يې مساوي او صورتونه يې مختلف وي كوم يو يې كوچنی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د زده کوونکو فعالیت:

- د هر ګروپ زده کوونکي دې د لاندې شکلونو اړوند کسرونه ولیکي او بیا دې پرتله کړي؟



$\frac{...}{...}$    $\frac{...}{...}$    $\frac{...}{...}$    $\frac{...}{...}$

### ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډمن کړي چې:

- آیا زده کوونکي کولای شي په آسانۍ سره هغه کسرونه چې مساوي مخرجونه لري پرتله کړي؟
- آیا زده کوونکي دمساوي مخرج لرونکو کسرونو پرتله کولو کې اشتباه او غلطي نه کوي؟

### کورنۍ دنده:

د دوو جوړو کسرونو د منځ په تش ځاي کې د (< یا >) مناسبه نښه ولیکئ.

$\frac{۳}{۵}$ ☐ $\frac{۱}{۵}$      $\frac{۳}{۴}$ ☐ $\frac{۱}{۴}$

$\frac{۴}{۹}$ ☐ $\frac{۷}{۹}$      $\frac{۲}{۶}$ ☐ $\frac{۵}{۶}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تمرين

پرتله يې کړئ؟

| | |
|---|---|
| $\frac{۱۳}{۱۸}$ □ $\frac{۱۵}{۱۸}$ | $\frac{۵}{۹}$ □ $\frac{۷}{۹}$ |
| $\frac{۴۰}{۷۵}$ □ $\frac{۳۴}{۷۵}$ | $\frac{۹}{۱۱}$ □ $\frac{۴}{۱۱}$ |
| $\frac{۷۵}{۸۰}$ □ $\frac{٦۲}{۸۰}$ | $\frac{۸}{۲۰}$ □ $\frac{۱۰}{۲۰}$ |
| $\frac{٦۷}{۸۵}$ □ $\frac{۷٦}{۸۵}$ | $\frac{۵۳}{۷۳}$ □ $\frac{۵۴}{۷۳}$ |
| $\frac{۷۸}{۹۳}$ □ $\frac{۸۷}{۹۳}$ | $\frac{٦۰}{۷۰}$ □ $\frac{٦۱}{۷۰}$ |
| $\frac{۹۳}{۹۷}$ □ $\frac{۹۲}{۹۷}$ | $\frac{۵۴}{۵۵}$ □ $\frac{۴۵}{۵۵}$ |


ښاغلی ښوونکی دي د زده کوونکو پوښتنې حل او د ستونزو په صورت کې دي له هغو سره مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوه دیرشم لوست:**

# د عامو کسرونو جمع چې مخروجونه يې سره مساوي وي

**هدف:** زده کوونکي بايد هغه عام کسرونه چې مساوي مخرجونه لري په آسانۍ سره جمع کړي.



$$\frac{۳}{۵} = \frac{۱}{۵} + \frac{۲}{۵}$$


**پوښتنې:**

- په پورتني شکل کې کوم کسر د مستطيلي شکلونو په واسطه په ښه شوی دی؟
- پورتني شکل د کوم کسر نقطو په واسطه په ښه شوی دی؟
- په پای کې د ټول شکل په ښه شوې برخې کوم کسر ښيي.

**د زده کوونکو فعاليت:**

- زده کوونکي دې په ګروپونو کې يو د بل په مشوره د لاندې شکل څخه
- د کسرونو د جمع حاصل په لاس راوړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\frac{٣}{٨} + \frac{٢}{٨} = \frac{...}{...}$$

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډمن کړي چې:

- زده کوونکي کولای شي چې د شکلونو له مخې مساوي مخرج لرونکو عامو کسرونو د جمعې مفهوم په لاس راوړي؟
- زده کوونکي کولای شي داسې کسرونه په آسانۍ سره جمع کړي؟

که چېرې وغواړئ هغه عام کسرونه چې مخرجونه یې مساوي وي یو له بله سره جمع کړئ نو صورتونه یې جمع او په یوه مخرج یې ولیکئ د کسرونو د جمعې حاصل لاسته راځي.

ښاغلی ښوونکی دې دا ډول شکلونه مخکې په کاغذ کې تیار او ټولګي ته دې د ځان سره راوړي بیا دې هر ګروپ ته یو ، یو شکل ورکړي چې زده کوونکي ور باندې کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کورنی دنده:

د لاندې کسرونو د جمعې حاصل چې مخرجونه يې سره مساوي دي په لاس راوړئ؟

$\frac{۵}{۹}+\frac{۲}{۹}=\frac{...}{۹}$ | $\frac{۳}{۱۰}+\frac{۶}{۱۰}=\frac{...}{۱۰}$

$\frac{۸}{۲۰}+\frac{۵}{۲۰}=\frac{...}{...}$ | $\frac{۷}{۱۵}+\frac{۱}{۱۵}=\frac{...}{...}$

## تمرين

$\frac{۴}{۱۱}+\frac{۵}{۱۱}=$ | $\frac{۲}{۸}+\frac{۵}{۸}=$

$\frac{۱۳}{۱۶}+\frac{۲}{۱۶}=$ | $\frac{۲}{۱۲}+\frac{۵}{۱۲}=$

$\frac{۲۵}{۱۰۰}+\frac{۵}{۱۰۰}=$ | $\frac{۱۱}{۳۰}+\frac{۱۱}{۳۰}=$


ښاغلی ښوونکی! که چېرې زده کوونکي د پوښتنو په حل کولو کې ستونزې ولري هغوی ته لارښوونه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### دري ديرشم لوست

## د عام كسر تفريق چې مساوي مخرجونه ولري

**هدف**: زده كوونكي بايد وكړاى شي عام كسرونه چې مساوي مخرجونه ولري يو له بل څخه تفريق كړي.




$$\frac{۳}{۵} - \frac{۱}{۵} = \frac{۲}{۵}$$

**پوښتنې**:

- پورتني شكل كې كوم كسر په نښه شوى دى؟
- د نښه شوې برخې څخه كوم كسر اخيستل شوى دى؟
- كوم كسر پاتې دى؟

### د زده كوونكو فعاليت:

- زده كوونكي دې په ګروپونو كې د شكل په نظر كې نيولو سره د لاندې
- عامو كسرونو د تفريق حاصل په لاس راوړي؟



$$\frac{۶}{۸} - \frac{۴}{۸} = \frac{...}{...}$$

ښاغلى ښوونكى دې دا ډول شكلونه مخكې تر مخكې ترتيب او دځان سره تړولګي ته راوړي او پر ګروپونو دې ووېشي چې زده كوونكي كار ورباندې وكړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډمن کړي چې:

- زده کوونکي کولای شي د شکلونو له مخې د مساوي مخرج لرونکو عامو کسرونو د تفریق حاصل مفهوم په لاس راوړي.
- زده کوونکي کولای شي دا ډول کسرونه یو د بل څخه تفریق کړي.

که چېرې وغواړئ دوه عام کسرونه چې مساوي مخرجونه ولري یو له بله تفریق کړئ صورتونه یې یو د بل څخه تفریق او پر یو مخرج یې ولیکئ.

## کورنۍ دنده:

د لاندې مساوي مخرج لرونکو عامو کسرونو د تفریق حاصل پیدا کړئ؟

$\frac{۶}{۷} - \frac{۳}{۷} = \frac{...}{۷}$ | $\frac{۵}{۹} - \frac{۲}{۹} = \frac{...}{۹}$

$\frac{۹}{۱۵} - \frac{۵}{۱۵} = \frac{...}{...}$ | $\frac{۸}{۱۱} - \frac{۶}{۱۱} = \frac{...}{...}$

## تمرین

$\frac{۶}{۲۰} - \frac{۲}{۲۰} =$ | $\frac{۷}{۱۰} - \frac{۴}{۱۰} =$

$\frac{۱۷}{۳۵} - \frac{۹}{۳۵} =$ | $\frac{۷}{۱۲} - \frac{۵}{۱۲} =$

$\frac{۲۰}{۱۰۰} - \frac{۲۰}{۱۰۰} =$ | $\frac{۸}{۱۸} - \frac{۴}{۱۸} =$

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

# د اندازه کولو واحدونه

**څلوردېرشم لوست**

## د اوږدوالي(طول) د اندازه کولو واحد

## د اوږدوالي د اندازه کولو واحد متر دی

## د متر اجزاء او اضعاف

**هدف**: زده کوونکي د اوږدوالي د اندازه کولو واحد و پېژني.





**پوښتني**:

- د شیانو اوږدوالی د څه شي په واسطه اندازه کوو؟
- د اوږدوالي د اندزه کولو واحد څه شی دی؟

د متر اجزاوي ۱ متر مساوي دی له:

- **۱۰ دیسي متره**
- **۱۰۰ سانتي متره**
- **۱۰۰۰ ملي متره**

د متر اضعاف:

- **۱دیکا متره** = **۱۰ متره**
- **۱هکتو متره** = **۱۰۰ متره**
- **۱کیلومتره** = **۱۰۰۰ متره**

ښاغلي ښوونکی دې متر د ځان سره ټولګي ته راوړئ او د امکان تر حده پورې په عملي توګه د اوږدوالي د واحد اجزاء او اضعاف هغوي ته وښياست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زده کوونکو فعالیت:

د هر ګروپ زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځایونه په مناسبو عددونو سره ډک کړي.

- ۱ دیکامتر مساوي دی له .............. مترو سره
- ۱ هکتومتر مساوي دی له .............. مترو سره
- ۱ کیلو متر مساوي دی له .............. مترو سره

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډمن کړي چې:

- زده کوونکي د متر اجزاوې پېژني؟
- زده کوونکي د متر اضعاف هم پېژني؟
- ایا زده کوونکي په دې پوه شوي دي چې اجزاوې د متر څخه کوچنۍ او اضعاف د متر څخه لوی دي؟.

## کورنۍ دنده:

تش ځایونه ډک کړئ؟

۲۰ دیسي متره مساوي دي له .......... مترو سره.

۳۰۰ سانتي متره مساوي دي له......... مترو سره.

۲۰۰۰ ملي متره مساوي دي له .......... مترو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پنځه دیرشم لوست**

# د اوږدوالي د واحد د اجزاوو او اضعافو په یو بل باندې بدلول

**هدف**: زده کوونکي وکړای شي د اوږد والي د اندازه کولو واحدونه یعنې اجزاء په اضعافو او اضعاف په اجزاو بدل کړي.

مثال:

۵ متره مساوي څو ملي متره کیږي؟

۵۰۰۰ ملي متره = ۱۰۰۰ × ۵ متره

**پوښتنې**:

- یو متر مساوي څو ملي متره دی؟
- ۷ متره مساوي څو ملي متره کیږي؟

## د زده کوونکو فعالیت:

د هر ګروپ زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځایونه په مناسبو عددونو سره ډک کړي؟

۳ متره مساوي دي له ...................... ملي مترو سره

۷ متره مساوي دي له ...................... سانتي مترو سره

۹ متره مساوي دي له...................... دیسي مترو سره

۶۰۰۰ متره مساوي دي له ................. کیلو مترو سره

۵۰۰۰ متره مساوي له ..................... هکتو مترو سره

۸۰۰۰ متره مساوي دي له ................ دیکا مترو سره

ښاغلی ښوونکی دې د ټولو ګروپو د کار او فعالیت څخه پاملرنه او څارنه وکړي، که مشکل ولري مرسته او لارښونه دې وشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ارزونه:**

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډمن کړي چې:

- آیا زده کوونکي کولای شي د اوږدوالي د اندازه کولو واحد د هغه په اجزاوو باندې بدل کړي؟
- آیا زده کوونکي کولای شي چې د اوږدوالي واحد د هغه په اضعافو باندې بدل کړي؟
- آیا زده کوونکي د واحدونو په بدلولو کې ستونزې نه لري؟

**کورنۍ دنده:**

- ۲ متره په سانتي متر واړ وئ .
- ۸ متره په ملي متر واړ وئ .
- ۹ کیلو متره څو متره کېږي.
- ۴۵ هکتو متره څو متره کېږي حساب یې کړئ.

ښاغلی ښوونکی دې د زده کوونکو کورنۍ دنده وګوري او که چېرې یې اشتباه کړي وي لارښوونه دې ورته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شپږدېرشم لوست**


# د کتلې د اندازه کولو واحد

## د کتلې د اندازه کولو واحد ګرام دی

## د ګرام اجزاء او اضعاف

**هدف**: زده کوونکي د کتلې د واحد اجزا او اضعاف و پیژني.




**پوښتني**:

- کتله د څه شي په واسطه اندازه کېږي؟
- د کتلې د اندازه کولو واحد څه شی دی؟

د ګرام اجزاء: ۱ ګرام مساوي دی په:

- ۱۰ دیسي ګرامو
- ۱۰۰ سانتي ګرامو
- ۱۰۰۰ ملي ګرامو

د ګرام اضعاف:

- ۱ دیکا ګرام = ۱۰ ګرام
- ۱ هکتو ګرام = ۱۰۰ ګرام
- ۱ کیلوګرام = ۱۰۰۰ ګرام

ښاغلی ښوونکی دې د وزنونو په برخه کې زده کوونکو ته بشپړ معلومات ورکړي چې د ګرام په اجزا او اضعاف باندې پوه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زده کوونکو فعالیت:

- د هر گروپ زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځایونه په مناسبو عددونو ډک کړي؟
- یو دیکاگرام مساوي دی له ..................... گرامو سره
- یو هکتو گرام مساوي دی له .................. گرامو سره
- یو کیلو گرام مساوي دی له.................... گرامو سره

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډه کړي چې:

- زده کوونکو د گرام اجزاوې پېژندلې دي.
- زده کوونکو د گرام اضعاف پېژندلي دي.

## کورنۍ دنده:

تش ځایونه ډک کړئ.

۵۰ دیسي گرامه مساوي دی له ................ گرامه سره

۲۰۰ سانتي گرامه مساوي دی له ............... گرامه سره

۹۰۰۰ ملي گرامه مساوي دی له .................. گرامه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

### اووه دېرشم لوست

## د کتلې د واحد د اجزاوو او اضعافو په یو بل باندې بدلول

**هدف**: زده کوونکي د کتلې واحد دهغه په اجزاوو او اضعافو باندې واړوي.

مثال:

۷ ګرامه مساوي له څو سانتي ګرامو سره کېږي؟

۷۰۰ سانتي ګرامه = ۱۰۰ × ۷

**پوښتنې**:

- یو ګرام مساوي څو سانتي ګرامه دي؟
- ۵ ګرامه مساوي له څو سانتي ګرامو سره کېږي؟

ویلی شو چې:

**د زده کوونکو فعالیت**:

زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځایونه په مناسبو عددونو ډک کړي.

۴ ګرامه مساوي دي له ........................ ملي ګرامو سره

۹ ګرامه مساوي دي له ..................... سانتي ګرامو سره

۵ ګرامه مساوي دي له ..................... دیسي ګرامو سره

۲۰۰۰ ګرامه مساوي دي له ................ کیلو ګرامو سره

۷۰۰ ګرامه مساوي دي له ................ هکتو ګرامو سره

۲۰ ګرامه مساوي دي له ................ دیکا ګرامو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډمن کړي چې:

- آیا زده کوونکي د کتلې واحدد هغې په اجزاو بدلولای شي؟
- آیا زده کوونکي د کتلې واحد د هغې په اضعافو بدلولای شي.
- آیا زده کوونکي د کتلې د واحد د بدلولو په وخت کې غلطي نه کوي؟

## کورنۍ دنده:

- **۱۵** ګرامه مساوي له څو ملي ګرامو سره کیږي حساب یې کړئ؟
- ۱۲ ګرامه مساوي له څو سانتي ګرامو سره کیږي حساب یې کړئ؟
- **۵۵** ګرامه مساوي له څو دیسي ګرامو سره کیږي حساب یې کړئ؟
- ۱۰۰ کیلو ګرامه مساوي له څو ګرامو سره کیږي ؟

ښاغلی ښوونکی دې په ارزونه کې پاملرنه وکړي چې زده کوونکي پوه شوي دي او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اته دېرشم لوست**

# د ظرفیت (حجم) د اندازه کولو واحد


## د ظرفیت اندازه کولو واحد لیتر دی

## د لیتر اجزاء او اضعاف

**هدف**: زده کوونکي د ظرفیت د اندازه کولو، لوی او کوچني واحدونه (اجزا او اضعاف) وپېژني

**پوښتني**:

- مایعات (اوبلن) لکه اوبه، تیل، غوړي، شېدې، او نور د څه شي په واسطه اندازه کېږي؟
- د ظرفیت د اندازه کولو واحد څه شی دی؟



د لیتر اجزا: ۱ لیتر مساوي دی په
- ۱۰ دیسي لیترو
- ۱۰۰ سانتي لیترو
- ۱۰۰۰ ملي لیترو

د لیتر اضعاف:
- ۱۰ لیتره= ۱ دیکا لیتر
- ۱۰۰ لیتره = ۱ هکتو لیتر
- ۱۰۰۰ لیتره= ۱ کیلولیتر

ښاغلی ښوونکی دې د زده کوونکو کورنۍ ډله په منظمه توګه وګوري او که مشکل و لري لارښوونه دې ورته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زده کوونکو فعالیت:

د هر ګروپ زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځایونه په مناسبو عددونو ډک کړي؟

- ۱ یو دیکالیتر مساوي دی له ............. لیترو سره.
- ۱ یو هکتو لیتر مساوي دی له ............ لیترو سره.
- ۱ کیلو لیتر مساوي دی له ............. لیترو سره.

## ارزونه:

- ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډمن کړي چې:
- آیا زده کوونکو د لیتر اجزاوې پېژندلي دي؟
- آیازده کوونکو دلیتر اضعاف هم پېژندلي؟

## کورنۍ دنده:

د لاندې جملو تش ځایونه ډک کړئ؟

۵۰ دیسي لیتره مساوي دي له........................ لیترو سره.

۳۰۰ سانتي لیتره مساوي دي له .................. لیترو سره.

۵۰۰۰ ملي لیتره مساوي دي له ................... لیترو سره.


(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه دېرشم لوست

# د وخت (زمان) د مقیاس واحد

**هدف**: زده کوونکي د وخت د مقیاس په واحد باندې پوه او د هغه اجزا او اضعاف و پېژني.

د وخت د مقیاس واحد ګړۍ (ساعت) دی.




**پوښتنې**:

- آیا د وخت دقیق پوهېدل ارزښت لري؟
- وخت د څه شي په واسطه اندازه کیږي؟

د وخت د مقیاس د واحد اجزاء: ثانیه، دقیقه

د وخت د مقیاس د واحد اضعاف: شپې او ورځې، اونۍ، میاشت، کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې د لاندنې جملو تش ځایونه په مناسبو عددونو ډک کړي؟

یوه شپه او ورځ مساوي ده له ............. ګړیو سره

یوه ساعت مساوي دی له .................. دقیقو سره

یوه دقیقه مساوي ده له .................... ثانیو سره

## ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې ځان ډاډه کړي چې:

- آیا زده کوونکو د وخت د واحد اجزاوې پېژندلي دي؟
- زده کوونکو د وخت د مقیاس د واحد اضعاف هم پېژندلي دي؟

## کورنۍ دنده:

د لاندې جملو تش ځایونه په مناسبو عددونو ډک کړئ؟

یو کال مساوي دی له ............... ............... میاشتو سره

یو کال مساوي دی له ................................ اونیو سره

یوه اونۍ مساوي ده له .............................. ورځو سره

د وخت د مقیاس یو لوی واحد پېړۍ (قرن) دی چې:

۱۰۰ کاله = یوه پېړۍ یا یو قرن سره

د وخت د واحد اجزا او اضعاف په یو بل باندې بدلیدلی شي.

ښاغلی ښوونکی دې توجه وکړي چې د په زړه پورې پوښتنو په کولو سره صحیح ځوابونه تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال:

یوه اونۍ څو ساعته کیږي؟

حل:

داچې یوه اونۍ مساوي ده له ۷ شپو ۷ ورځو سره

نو له دې کبله: یوه شپه او ورځ مساوي ده له ۲۴ ساعتونو سره

۲۴ × ۷ = یوه اونۍ

۱۶۸ ګړۍ = یوه اونۍ

- یوه ګړۍ څو ثانیې کیږي؟
- یو کال څو ورځې کیږي؟
- یو کال څو اونۍ کیږي؟
- یوه پیړۍ څو میاشتې کیږي؟

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**